# ستوري مجله لومړۍ ګڼه ۲۰۰۷ ع کال

# Stori Magazine first year, First Issue! June-July 2007



دکونړ د اسمان ستوری لا ځلېږي
لکه توغ د لوی افغان لا هم رېږي
مور يې ځکه لا ستاینه بیا او بیا کړو
لري زړونو کې مو ځای، کله هېرېږي
"محمد غیاث حقمل"

ستوري

د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنې خپلواکه،
ناپېليلې، کلتوري او ادبي دوه میاشتنۍ خپرونه

لومړی کال، لومړی ګڼه جون_ جولايي ۲۰۰۷م کال

لږ وخت، ډېر رحمت

چترال او چترالیان وپېژنئ

د پښتونخوا پښتنو ته د ډاکټر کبیر ستوري...

د پښتو_پښتونولۍ ستوري

د اورمړ قوم پېژندنه

د الفباء تاریخي شالید ته لنډه کتنه

Stori

Bimonthly Magazine

First year, First Issue, June_July 2007

د کونړ سیل

تیارې د ښکېلاک مې نوی دنیا به ووینم
خپل کور، کلی، حجرې، وطن رڼا به ووینم
یاران به مېلمانه کړم د حجرو منګي رباب ته
په ټنګ ټکور نغمو کې یار اشنا به ووینم
څو ورځې به په کور یم بیا به لاړ شمه په سیل
دا غرونه د کونړ د شاوخوا به ووینم
د دنګو غرو لمن کې چې د ژوند سندرې وایي
د سیند د اوبو شور غورځې نڅا به ووینم
چکر د سیند په غاړه مازیګر کې به وهمه
ګودر د سر کاڼو او جالالا به ووینم
د حسن شهزادګۍ چې د ګودر غاړې ته راشي
دا میره د ښاپېست او د ښکلا به ووینم
رنګونه د ښاپېست چې کاڼو بوټو کې دېره دي
ویالې شینکي باغونه هره خوا به ووینم
بلبلې چې ډاګونو کې د ګلو باغباني کړي
د ګل او د بلبل ناز او ادا به ووینم
چې توره د خوشال یې جوړه کړې د قلم نه
تنر کې هغه ستوری د سبا به ووینم.
"اروښاد ډاکټر کبیر ستوری"

خان علیین مکان خوشال خان

## غزل

چې نظر دې په تیکه د تور وربل کړم
د جهان بادشاه د خان مخې ته بل کړم
لا د ما طالع بهترې تر هر چا دي
چې دا هسې کښلیو سترګو ته کتل کړم
د سرو شونډو په شرابو چې بېخود شم
له مستیه رقیبانو ته کنځل کړم
اجابت به یې لا کله تاثیر کاندي
چې دعا دې د وصال په مهر تل کړم
چې مې زړه وریسې سو و، هومره سرېږي
چې په مخ یې پړهارونه په چیچل کړم
د ښه مخ مینه مې نه درومي له دله
که تل غوږ د ناصحانو په ویل کړم
په درست زړه مې پړهارونه دي خوږېږي
په وار وار د هر پړهار دارو، تبل کړم
دا داغونه چې مې سر په زړه پنځوس دي
تر بل کال به یې د عشق له لاسه سل کړم
چا په زور رالره غم نه دی راوړی
و خپل زړه ته یې په خپله راوستل کړم
ازلې مې د غم بخره ده راوړې
غم که نورو لره درومي زه یې خپل کړم
یو نېکبخت ساعت به وي چې راته غوږ کا
چې په ور یې په فریاد، فریاد ژړل کړم
چې لا ښهر د ډهلیه شته **خوشاله**!
څه فایده که وران په آه سره کابل کړم

***

# ستوري

# Stori

خپلواکه، کولتوري او ادبي دوه میاشتنۍ خپرونه
لومړی کال، لومړۍ ګڼه، جون_جولایی ۲۰۰۷ م کال

### د امتیاز خاوند

د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه

### مسوول مدیر

عرفان الله کوټوال

### مرستیال

هدایت الله حیات

### کتنپلاوی

بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت الله ملنګ، ګلرنګ کوچوان

### سلاکاره ډله

مرستیال خبرونکی وجیه الله شپون، عبدالقیوم زاهد مشوانی، شفیع الله تاند

### همکار غړي

رحیم الله یوسفزی، فضل الهادي عاصم، میرسلام مجاور، داود شاه داود

### کلنۍ ګډون بیه

افغانستان کې: ۲۰۰ افغانۍ
پاکستان کې: ۲۵۰ کلدارې
په نورو هېوادو کې: ۵۰ امریکایي ډالره

### د یوې ګڼې بیه

افغانستان کې: ۲۵ افغانۍ
پاکستان کې: ۳۰ کلدارې

"ستوری" ستاسو خپرونه ده، ستاسې لیکنې، نیوکې او وړاندیزونه په ورین تندي منې.

### فهرست

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| پښتو ژبه (اداره) | ۱ |
| لږ وخت، ډېر رحمت | ۳ |
| د افغانستان د تاریخ په معاصره دوره | ۷ |
| د الفبا تاریخي شالید ته لنډه کتنه | ۱۳ |
| د یو بل سحر په انتظار | ۲۰ |
| ارواښاد ستوری زېږوه هم و | ۲۶ |
| د ډاکتر کبیر ستوري د لیکلو اثارو فرهنګي | ۳۲ |
| کبیر ستوری، د خبر ښېګنو سمبول | ۳۶ |
| د پښتو او پښتونولۍ ستوری | ۴۰ |
| د پښتونخوا پښتنو ته د ډاکتر کبیر ستوري | ۴۴ |
| خدمت دې خومره په ما پور دی | ۴۸ |
| پرېکړه لیک | ۵۱ |
| د ستورو رڼاګانې (شعرونه) | ۵۲ |
| په جرمنۍ کې د ارواښاد ستوري یادغونډه | ۶۰ |
| چترال او چترالیان وپېژنئ | ۶۳ |
| د اورمړ قوم پېژندنه | ۶۸ |
| نس ناسته | ۷۲ |
| د باغ جوړولو لارې چارې | ۷۴ |
| د خاص کونړ د ولسوالۍ د ښوونې روزنې | ۷۷ |

### د ستوري استازي

کابل: عبدالحلیم همت
ننګرهار: شفیع الله تاند
کونړ: نعمت الله کریاب
پېښوز: ذبیح شفق
جرمني: نسیم ستوری



سرلیکنه:

# پښتو ژبه

# او د پښتنو لیکوالو ذمه واري

په نننۍ دور کې چې د میډیا او ټکنالوژۍ د پرمختګ تېز رفتاره دور ګڼل کېږي، د نړۍ هر قوم د خپلې ژبې او کلتور د بډاینې او پرمختګ لپاره هلې ځلې تندي کړي او د خپلې ژبې لپاره کار کوي. لکه څنګه چې ژبه یو ټولنیز ملکیت دی، نو د هرې ټولنې وګړیو ته دا حق حاصل دی، چې د خپلې ژبې لپاره کار وکړي.

پښتو ژبه چې په نړۍ کې تقریباً له پنځوسو میلیونو څخه زیات وګړي پرې خبرې کوي او یو لرغونی تاریخ او ویاړ لري، په علمي کچه د نړۍ له نورو ژبو څخه ډېره وروسته پاتې ده. دا یو څرګند حقیقت دی، چې پښتانه په شعوري توګه له پوهې او علم څخه لیرې ساتل شوي دي، خو په پښتنو کې داسې عالمان، پوهان، لیکوالان او استعدادونه شته، چې ساری یې په ټوله نړۍ کې نه لیدل کېږي، خو ځینو پښتنو لیکوالانو تل د بلې ژبې لپاره کار کړی. که کومې علمي څېړنې، لیکنې او ژباړې یې کړي، نو هغه یې هم په پارسي، عربي او یا نورو ژبو کړي، چې د خپلې خوږې مورنۍ ژبې نه یواځې حق تلفي یې کړې، بلکې په سپک نظر یې ورته کتلي دي.





د یوه قام ژبه چې څومره پرمخ ځي، هغومره به هغه قام د ترقۍ او پرمختګ په پوړۍ ورخېژي، په مورنۍ ژبه کې د زده کړې حاصلول هم اسان دي او انسان د پرمختګ اوچتې پوړۍ ته رسوي. زموږ د هېواد چارواکي که پښتانه هم دي، خو د خپلې کرسۍ د بقا لپاره له پښتو ژبې سره د مېرې مور سلوک کوي. حال دا چې په قانون کې هم ورته د ملي ژبې مقام ورکړی، خو د ملت په رسمي ادارو او دفترونو کې ټول خط و کتابت په درباري ژبه (پارسو) کېږي، چې دا نه یواځې ستر ملي خیانت ګڼل کېږي، بلکې د ۷۵ فیصده پښتنو په حق پښې ایښودل کېږي، نو په دې شرایطو کې د هغه ټولو پښتنو لیکوالانو، پوهانو او عالمانو ذمه واري جوړېږي، چې د پښتو ژبې د پرمختګ او سرلوړۍ لپاره قلم راواخلي، خپلې لیکنې، څېړنې او علمي اثار په پښتو ولیکي او د قلم له لارې د پښتو ژبې د دښمنانو له مخونو څخه پردې لیرې او د پښتو د جایز حق غوښتنه وکړي، نو هله به پښتون قام اباد، سوکاله او د پرمختګ په لور ګامونه واخلي او د نړۍ له نورو قامونو سره به سیال شي.

په درنښت
اداره

مولوی صفي الله حزم

# لږ وخت، ډېر رحمت

زموږ اسماني کتاب قرآن کریم د رحمتونو او برکتونو کتاب دی، چې په هر سورت یې ځانګړي خصوصیات، الله جل جلاله په خپل مخلوق لورولي دي. دلته د قران عظیم الشان د یو سورت، چې سورت اخلاص نومېږي، د فضایلو لنډه غونډې یادونه کوو.

تفسیر خطیب شیربیتي او مفسر الوسي ددې سورت (۲۲) دوه ویشت نومونه ذکر کړي دي، چې د هر نوم لاندې یې یو بحث پروت دی، خو ددې لپاره چې پخپلې اصلي موضوع باندې بحث پیل کړو، د نومونو له تفسیر او حکایو څخه تېرېږو، یواځې نومونه یې ذکر کوم، چې په دې ډول دي:

سورت تفرید، سورت التجرید، سورت التوحید، سورت اخلاص، سورت النجات، سورت اولایت، سورت النسبة، سورت المعرفة، سورت الجمال، سورت المقشقة، سورت المعوذ، سورت الصمد، سورت الاساس، سورت المانعه، سورت المحتضر، سورت المعرفت، سورت البراة، المذکرة، سورت النور، سورت الانسان، سورت الایمان، سورت قل هوالله احد.

دغه دوه ویشت نومونه د سورت اخلاص ځانګړتیاوې دي، چې دې سورت ته الله ج ورکړي دي او دې سورت د فضایلو په اړه امام باري د ابي سعید خدري رض نه د حدیث روایت کوي، چې یو صحابي بیا بیا د





سورت اخلاص تلاوت کاوه. کله چې صباح شو یو بل صحابي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ددغه صحابي واقعه یې ورته بیان کړه. ددې صحابي دا خیال و، چې د سورت اخلاص تلاوت کول دا خو ډېر کم عمل دی. ددې په ځواب کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېر تاکید وفرمایل، چې زما دې قسم په هغه ذات، چې زما روح د هغه په لاس کې دی، چې دا سورت اخلاص خامخا برابر دی د قران کریم له درېیمې برخې سره. (تفسیر قرطبي)

همدارنګه د ابي السعید الخدري نه روایت، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابه کرامو (ملګرو) ته وویل، چې آیا تاسې ځان په یوې شپې کې د قران کریم د درېیمې برخې له تلاوت څخه عاجز ګڼئ؟ ددې خبرو اورېدو په صحابه کرامو (ملګرو) باندې اثر وکړ او په یوه شپه کې د قران کریم د درېمې برخې تلاوت په دوی باندې تکلیف شو. خوږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یې عرض وکړ، چې ددې خبرې له موږ څخه کوم یو دا طاقت او توان ولري؟

نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغوی په ځواب کې وویل، چې (الله صمد) دا د قران کریم له درېیمې برخې سره برابر دی. (تفسیر قرطبي)

همدا ډول له ابي هریرة رض څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل، چې زر راغونډ شئ چې زه تاسو باندې د قران درېیمه برخه لولم. نو صحابه کرام راغونډ شول. بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم راووت او په صحابه کرامو باندې یې سورت اخلاص قران کړ. بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم بېرته خپل ځای ته ننووت. نو صحابه کرامو پخپل مېنځ کې یو او بل ته وویل، چې دا خبره د سورت اخلاص د فضیلت په اړه، د الله جل جلاله له لوري له اسمان څخه راستول شوې (وحې) شوې ده او همداسې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل منزل ته ننووت. بیا څه ساعت وروسته بېرته راووت او ویې فرمایل، چې ما له تاسې سره وعده کړې وه، چې زه به پر تاسې باندې د قران کریم درېمه برخه لولم، نو خبر دار شئ چې دا سورت اخلاص د قران کریم له درېیمې برخې سره برابر





دی. (تفسیر قرطبي او تفسیر احسن الکلام).

په همدې توګه ابي الدردا رض د سورت اخلاص د فضیلیت په اړه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حدیث نقل کوي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وویل، چې الله تعالی قرانکریم په څو برخو (په درېو برخو) تقسیم کړی دی او (قل هوالله احد) د قران کریم له درېو برخو څخه یوه برخه ده او دا ددې په غوره والي باندې صریح دلیل دی او له همدې امله ورته سورت اخلاص هم وایي. (رواه مسلم)

د ام المؤمنین عایشې رض نه روایت دی، چې وایي نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو صحابي د جهاد په ګروپ کې ولېږه، چې همدغه ګروپ مشر و. ددې صحابي عادت و، چې د لمانځه په هر رکات کې به یې سورت اخلاص تلاوت کاوه. کله چې صحابه کرام له جهاد څخه راستون شول، نو د خپل مشر دا واقعه یې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته بیان کړه. کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا واقعه واورېده، نو صحابه کرامو ته یې وویل، چې ددې امیر لښکر څخه تپوس وکړئ، چې دا عمل دې د څه لپاره کاوه؟ نو هغوی تري تپوس

وکړ، چې هغه په ځواب کې وویل: دا سورت مې ځکه ډېر تلاوت کاوه، چې په دې کې د رحمن د ذات صفات دي او زه دا ښه ګڼم چې دا ولولم، نو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه و ته په ځواب کې وویل، چې دغه شخص ته خبر ورکړئ، چې الله تعالی تا سره محبت لري. (رواه مسلم)

په همدې ترتیب د انس بن مالک نه روایت دی، چې زه او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخامخ شو، په دې وخت کې مو یو اواز واورېده، چې یو صحابئ د سورت اخلاص تلاوت کاوه، نو رسول الله صلی الله وعلیه وسلم وفرمایل، چې واجب دی، دې سړي لپاره.! انس رض وایي ما ترې تپوس کړه: ای د الله رسوله! څه شی ورله واجب دی؟ نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل، چې جنت ورته واجب شو. (رواه الترمذی الحدیث صحیح والحسن)

همدارنګه د انس له زوی مالک نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي، چې هغه چا چې دوه سوه کرته سورت اخلاص هره ورځ ولوست، نو الله تعالی به ددې سورت په برکت د نوموړي شخص نه د پنځوس کالو ګناهونه لرې کړي او پاک به یې کړي، مګر قرض چې هغه د بنده حق دی، هغه الله تعالی نه





معاف کوي.

او همدا ډول په همدې سند (د انس بن مالک) روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه څوک چې په خپل بستره باندې د خوب قصد او اراده لري، په ښي طرف باندې څملي او بیا وروسته سل ځله سورت اخلاص ولولي، نو د قیامت په ورځ به الله تعالی ورته وایي: ای زما بنده! په ښي طرف باندې جنت ته ننوځه. (تفسیر قرطبي).

ددې سورت بل غوره والی دا دی، چې انس بن مالک نه روایت دی. وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي، چې هر هغه چا چې سورت اخلاص پنځوس (۵۰) ځله تلاوت کړ، نو الله تعالی به ورته د پنځوسو کلونو ګناهونه معاف کړي.

ددې سورت بله ځانګړنه دا ده، چې د سعد رض له زوی سهیل نه روایت دی، چې یو سړي نبي کریم صلی الله الیه وسلم ته د فقر او سختۍ د ژوند له امله شکایت وکړ. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، چې کله کور ته ننوځې، نو لومړی سلام اچوه، که څه هم کور کې یو تن موجود وي او که چېرته کور کې یو تن هم موجود نه وي، بیا هم سلام اچوه او بیا یو ځل سورت اخلاص تلاوت کړه. دغه صحابي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ورښودل شوي عمل باندې روان شو، نو الله پاک پرې خپل رحمت وکړ او رزق یې ورته پراخه کړ، دومره یې دا رزق ورته پراخه کړ، چې ګاونډیان یې هم له رحمت څخه برخمن شول.

## پښتون دې وي تل

**محمد غیاث حقمل**

چې لر او بر پکې یو کېږي پیوستون دې وي تل
خدایه پښتون دې وي تل، خدایه پښتون دې وي تل

یوه مو ژبه یو مو قام، یو مو اٰئین دی خلکو
یو مو ایمان، یو مو ارمان یو خو مو دین دی خلکو
چې ښکته پورته پکې نه وي دا سمون دې وي تل
خدایه پښتون دې وي تل، خدایه پښتون دې وي تل

لویه بلا ده جدایي د پښتانه کاله کې
راخو دې نشي سپکاوی زموږ درانه کاله کې
چې پکې راشي مساوات داسې بدلون دې وي تل
خدایه پښتون دې وي تل، خدایه پښتون دې وي تل

ترخو به وژنو یو او بل د تربګنۍ په نامه
راځئ چې ټول لاسونه ورکړو د وروری په نامه
چې پښتونواله یې سبق وي دا مضمون دې وي تل
خدایه پښتون دې وي تل، خدایه پښتون دې وي تل

دا مې ارمان دی چې یوځای شي دا خواره پښتانه
یو د سیمون، بل د جیحون نه تله راتله پښتانه
چې شي ازاد پښتونستان دا اوښتون دې وي تل
خدایه پښتون دې وي تل، خدایه پښتون دې وي تل

پوهاند محمد بشیر دودیال

# د افغانستان د تاریخ په معاصره دوره کې د پښتو د رسمي کېدو لپاره هڅې او په دې برخه کې د پوهاند صدیق الله رښتین ونډه

کله چې په ۱۷۴۷م کال کې ابدالي دولت تشکیل شو او احمد شاه بابا واکمن شو، د افغانستان په تاریخ کې له سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي لحاظه یو بېله او مهمه دوره پیل شوه.

له بده مرغه دده اولادې دغه پرتم، وحدت، شکوه، عظمت، برم او جلال ونه شو ساتلی، په تېره بیا د تیمور شاه په دوران کې، چې په اروپا کې د فرانسې عظیم انقلاب پېش شو، نړی تکان وخوړ، ټولو ملتونو د ترقی او تعالی په لور حرکت پیل کړ او د نورو ټولو بدلونونو سره یوځای، ادب، فرهنګ او ښوونه او روزنه کې هم بدلون راغی، خو له همدې دورې وروسته افغانستان کې کورنۍ ګډوډۍ زیاتېده، په تېره بیا دغه ناوړه حالت د زمان شاه په لنډه دوره کې خپل اوج ته ورسېد.



کله چې دده زامنو ته وار ورسېد، یو پر بل یې توري راوکښلې او هېواد په هراړخیز ډول یوې ژورې کندې ته ولوېد، چې په دې کې هغه فرهنګي صلابت، چې مخ په بره برېښېد، په ټپه ودرېد. د نورو





چارو تر څنګ د ژبې ودې، ښوونې او روزنې او علمي چارو هم زیان ولید. په دې لړ کې پښتو ژبې ته کوم خدمت ونه شو او د هېواد دا اکثریت اوسېدونکیو دغه ژبه هم په معارف هم رسمي ـ دفتري چارو کې چندان پرمخ نه ولاړه. سره له دې، چې د امیر شېر علي خان په دوره کې لړ څه پاملرنه وشوه، وروسته د غازي امان الله خان په وخت کې (پښتو مرکه) جوړه شوه، د محمد نادر شاه په وخت کې لړ څه نور هم ور ته پام وشو، خو بیا هم دومره د یادولو وړ نه دی، ځکه په پښتو کې لیک لوست، علمي کتابونه، د دفتر د چارو سر ته رسول او نور نه وو.

په ۱۳۰۲ هـ ش کال د افغانستان لومړنی اساسي قانون، چې هغه وخت "اساسي نظامنامه" بلل کېده، تصویب شوه. وروسته بیا په ۱۳۰۹ هـ ش کال کې د هېواد دویم اساسي قانون، چې "اساسي اصولنامه" بلل کېده، هم تصویب او نافذ شو. دغو قوانینو کې د پښتو ژبې موقف نه د تسجیل او د هغې پیاوړتیا ته څه پام نه و شوی.

له دې کبله، چې دغه مقاله یواځې د پښتو د ژور قانوني رسمي کېدو په هکله ده او قانوني او رسمي کېدل د هېواد اساسي قانون په واسطه تسجیل او تدوین کېږي، نو لازمه ده د قانون د ماهیت په هکله لنډه یادونه وشي:

قانون په عامه مانا هغه ټول مقیاسات او مقررات دي، چې د واکمنو مقاماتو له خوا تصویب شوي دي یانې د مقننه او اجرایه قوې حمایه ورسره وي او په ټولنه کې پر ته له کوم مانع د اجرا وړ وي. (ه_م ۴). قانون د عدالت او انصاف په مانا هم تعبیر شوی. په قانون کې د ټولنیز ژوند هر اړخ انعکاس مومي او له هغه څخه سرغړاوی لازمه سزا لري.

د افغانستان په معاصر تاریخ کې د ۱۳۴۳ هـ ش یا ۱۹۶۳م کال اساسي قانون ډېر نامتو دی. دغه قانون (د ډیموکراسۍ د لسیزې قانون) په نوم هم نومول شوی. په هېواد کې د ژور اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي او سیاسي بدلونونو له همدې نېټې وروسته پیل شول. له همدې وخت څخه وروسته پېنځه کلن اقتصادي_اجتماعي ګټور پلانونه طرح او تطبیق شول. د لومړي پېنځه کلن اقتصادي اجتماعي پلان (دقیقتاً په ۱۳۳۵) کې تطبیق پیل شو او همداسې ورپسې دویم او درېیم پلان دوام





وموند. اکثره سیاسي ګوندونه انهضتونه وروسته تر همدې کال ایجاد شول. لویې اقتصادي پروژې او شرکتونه هم وروسته تر همدې کلونو جوړ شول، معارف هم وده وموندله، مطبوعاتو بدلون وموند او فرهنګي څېره په بدلون شوه. دغه حساس وخت کې باریکبین شخصیتونه د ژبې او فرهنګ خدمت ته ځیر شول. د بېلګې په توګه پښتو کې هم څو رانه ځلانده ستوري راوځلېدل لکه مرحوم مولانا ګل پاچا الفت، مرحوم مولانا قیام الدین خادم، مرحوم استاد رښتین، مرحوم استاد بېنوا او مرحوم استاد حبیبي. دوی دې ته ځیر شول، چې د نورو هېوادونو په پر تله هېواد ډېر وروسته پاتې دی او د وروسته پاتې والي چاره په علم، سوله او پوهه کېدونکې ده، نو پوهه او علم په لیک لوست، په تېره بیا په خپله مورنۍ ژبه لیک لوست ممکنه ده. پوره په همدې کال (۱۳۴۳) کې مولانا قیام الدین خادم خپله (نوې رڼا) الف مخ کې لیکلي و:

"موږ چې سترګې وغړولې خپله شاوخوا، ځمکه اسمان، خلک او ولس مو ولید، نو زموږ په پښتو او پښتني دنیا سترګې ولګېدې.

دلته ډېر وګړي لیدل کېږي، چې پښتو یې ویله او پښتونولی ته یې د یو مقدس ژوند او ژواک په سترګو کتل. په دې ولس کې د ژوند ټولې خوږلنې موجودې وې، خپل قوم، خپل وطن، خپله ژبه، خپل اخلاق، خپل رواجونه، خپل دودونه، خپله فلسفه، خپلې قیصې، خپله موسیقي، خپلې هوجرې او خپلې جرګې!

دا خلک نالوستي هم وو او نه دا چې ګوندې چور بې علمه او بې سواده وو. په دوی کې لیک لوست، ادب او تحریر موجود وو، خو دا څیزونه د دوی په خپله ژبه نه وو. دغلته پښتو وه، خو چا نه لیکله..." (۲ _ م م الف _ ب)

په دې ډول خادم هغه څه ته اشاره کړې وه، چې یو عیني واقعیت و د بازار ژبه، د دربار ژبه او د دفتر ژبه، د معارف ژبه او د تعلیم ژبه بله ژبه وه، پښتو نه وه. په حقه سره چې مرحوم خادم صاحب، مرحوم رښتین صاحب، مرحوم الفت صاحب او یو شمېر نور خپل مسؤلیت او پازې ته ځیر شوي وو او پښتو ژبې ته خدمت یې د ځان وجیبه ګڼلې وه. په همدې کتاب کې خادم بیا لیکلي و:

"... قدرت دا خسنی زموږ په نامه راوایستلو!" (۲ _ م. ب)





وروسته د خپلې وجیبې تر روښانولو لیکي:

"په دغه وخت کې درې کربښې سمه او سوچه پښتو لیکل خورا ګران، له رواجه وتلي او نادوده کار و. په ټول لوی قوم کې که چېر ته کوم کس داسې و، چې پښتو یې لیکلای شوای، نو و به، خو خلکو باور نه کاوه چې په پښتو کې هم ګوندې څه لیکل کېدای شي." (۲ _ م.ب)

په رښتیا هم همدا یو تریخ واقعیت و، هغه وخت به چې کله د پښتون زوی د طالب په توګه مدرسې ته، ته او د زده کوونکي په توګه به ښوونځي ته، ته، سرنامې، ملاطفې، د عرفي او شرعي سندونو د لیکلو طرز، قبالې، بوستان، ګلستان، پنج کتاب او نور ټول په بله ژبه وو، خو دا دی اوس ګورو چې له نېکه مرغه پښتو یوه بډایه، روانه، عام فهمه، سوچه، علمي او درنه ژبه ده. ګڼ شمېر آثار پکې لیکل شوي آن په نړېواله کچه د ملګرو ملتونو د سازمان په یوه غونډه کې پښتو خبرې شوي، راډیو په پښتو ژبه خپروني لري، کلونه په تلویزیون کې وه، تر کیهان پورې په پښتو ټلیفوني مرکه شوې، په پښتو ژبه اخبارونه او مجلې لرو، په ښوونځیو کې درسي کتابونه په پښتو چاپ شوي، په پوهنځیو کې ګڼ شمېر علمي ماخذونه په پښتو کې شته او داسې نور ګڼ مثالونه. دا د همدغو ستورو برکت و، که له یوې خوا خادم د ځلانده ستوري په توګه (نوې رڼا) سره اشنا کړو، له بلې خوا حبیبي ژورې علمي څېړنې وکړې او د پښتو لرغونې تاریخي اثار او تذکرې یې راوپېژندلې، ژواک، بېنوا او پژواک نوي ادبي تخلیقي اثار په پښتو کې رواج کړل، بختاني پښتو ترانې غني کړې، ځینو پکې له نورو اروپایي ژبو ژباړې ترسره کړې. له دوی سره د یو شمېر نورو کسانو نومونه هم یادولای شو، چې ګڼ شمېر حقوقي، اجتماعي، سیاسي او نورو برخو کې یې پښتو ته ژور خدمتونه وکړل لکه محمد ګل خان مومند او نور...

خو د رښتین صاحب پازه او مسؤلیت په یوه بل ډګر کې هم جوت و، هغه دا چې:

کله چې د هېواد د درېیم اساسي قانون طرح یوې (۷) کسیزې کمېټې جوړه کړه، هغه یوه (۲۸) کسیز

لایق زاده لایق

# د يو بل "سحر" په انتظار

لکه د نورو ډېرو خلکو زما هم دا ارمان په زړه کې د مودو مودو راسې تپه تپه کېده، چې کله به د پاک نبي صلی الله علیه وسلم دربار ته حاضر شم او د هاغه جذبو اظهار به ورته وکړم،

څوک د حج نه راغلل، ما به یې سترګو ته کتل او په دغه سترګو کې به مې د مدینې منورې ښکلاګانې لټولې. نه پوهېږم چې ولې به زما زړه ته دا خبره بیا بیا راتله، چې: هو تابه



کومې چې ما د ماشوم والي نه د ذهن په کور کې ساتلې وې، چې کله به

هم یو ځل د کوټینو سردار ځان ته غواړي، ته به هم یوه ورځ د نبیانو د





آقا په دربار کې خپل تندی لګوې. یو خواهش یو ارمان به زه په دې لیکلو مجبوره کولم، چې:

**لایـقه هاغه وخت ته انتظار کوه تر عمره**

**چې وبلې دې ځان ته شهنشاه د مدینې**

زما د نعمتونو لومړی مجموعه په کال ۱۹۹۱ کې چاپ شوه او هم په دغه کال ورته قامي ایوارډ ملاو شو. غالباً زه لومړی پښتون شاعر وم، چې دغه اعزاز مې ترلاسه کړو. د هغه نه پس بیا غالباً ښاغلي افضل رضا مرحوم، ښاغلي میر احمد صوفي او نورو ته ایوارډونه ورکړل شو.

پینځلس کاله پس چې کله ما خپله دویمه نعتیه مجموعه "**جلوې**" راغونډوله، نو زما د مدینې د لیدو ارمان نور هم ځوان شوی و او اظهار مې داسې چلونه زده کول:

**چې خالق او فرشتو تمامه نه کړه**

**ستا د حسن تذکره خومره اوږده ده**

چې کله دغه "جلوې" چاپ شوې او زما پرې سترګې ولګېدې، نو زړه مې هوا خوړه، په ذهن کې مې د مینې جذبې لا په غورځنګ شوې، زما د احساس په پرده د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ښار ښکلاګانې الول شوې.

او بیا دغه خوب د تېر ربیع الاول په میاشت کې هله رښتیا شو، چې کله د پاکستان وزیر اعظم ښاغلي شوکت عزیز ماله زما په نعتیه مجموعه "جلوې" ایوارډ راکړو او د پاکستان جمهور رئیس ښاغلي پرویز مشرف ماله له نغد انعام سره سره د عمرې کولو زېرې هم راکړو.

خوشحالي ډېره وه، ماله ملګرو سره رابطې کولې او چې کله راته د قطري ملګري ښاغلي فیروز اپریدي وویل، چې هم په دې ورځو کې حاجي ګلزار اپریدی عمرې له روان دی، نو د الله تعالی احساناتو او مینې راته د سجدې نوي چلونه وښودل. ما داسې محسوسه کړه، لکه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم زما مینې او ارمان ته خاص نظر کړی دی او بیا چې څنګه د اسلام اباد نه د مدینې په لور روانېدم، نو بې اختیاره مې خولې ته راغلل، چې:

**یمه خومره بختور چې د اقاص په لوري ځم**

**د ژوند د تورو شپو نه درڼا په لوري ځم**

دا د حضور صلی الله علیه وسلم د مینې برکتونه وو، چې زه یې د مکې معظمې نه اول خپل ځان ته وغوښتم،





سبحان الله د حضور صلی الله علیه وسلم څه شان دی:

**له دې دره بې نوا څوک نه دي تلي**

**دا خبره د مودو نه ازموده ده**

د ګنبد خضری د دیدار، د حضور صلی الله علیه وسلم د حاضرۍ او په حرم شریف کې بیا بیا د الله تعالی د احساناتو د شکر ادا کولو سلسله روانه وه، چې د ګران حاجي ګلزار خان ټیلیفون راغی، چې زه د مکې معظمې نه مدینې منورې ته رارسېدونکی یم او بیا چې کله د اپریل د میاشتې ووېشتمه نېټه وه، د حرم شریف په لمن کې خوږو خوږو هواګانو چورلکونه خوړل، د هر رنګ او نسل خلک د الله تعالی په ذکر کې مصروف وو، چې حاجي ګلزار سره د خپلو ملګرو ښاغلیو قاضي نوید شهزاد، ښاغلي محراب خان او ښاغلي عبدالجلیل سره راورسېده او بیا چې کله حاجي ګلزار خان دا وویل، چې دا زما اته ویشتمه عمره ده، نو حق دق پاتې شوم. د

هغه مخ ته مې په غور کتل او چې د هغه په لاسونو کې مې قران پاک ته خیال شو، نو پوه شوم چې د حاجي صیب د ژوند د دومره برکتونو اصل راز د هغه پخه عقیده ده. د هغه د الله تعالی په کور کې بیا بیا حاضري ده او د پاک نبي صلی الله علیه وسلم په لمن کې د خپلې مینې اظهار دی.

په داسې حالاتو کې بې صبري یو فطري امر دی، ما د حاجي صیب د ژوند ځینې رازونه ولټول او هغوی راته ځوابونه راکړه. ما دغه ځوابونه په دې خیال او په دې باور ریکارډ کړل، چې زه یو خوا د دغه رازونو سره دغه لمحې محفوظې کړم او بل خوا د "ستوري" د پاڼو له ښکلا سره سره دا عزت د ریډیو پاکستان کوهاټ په







نصیب شي، د چرته نه چې زه رزق ګټم.

ما چې کله د حاجي ګلزار نه دا پوښتنه وکړه، چې تاسو دومره ځلې دې پاکو ځایونو ته راغلي یئ، په مجموعي توګه ستاسو په ژوند کوم اثرات پرېوتل؟ نو حاجي صیب ما ته په ډېر غور وکتل بیا یې وویل:

_ زه چې په اول ځل دلته راغلم، نو دا سوال مې وکړو، چې پروردګاره ماله دا توفیق راکړه، چې زه بیا بیا دلته راځم او زما دغه سوال لکه چې د خولې نه د وتو سره سم قبول شوی د. زه چې کله هم دې دربار ته راځم، نو له ځان سره د رحمتونو ځولۍ ډکه وړم. دغه رحمتونه زه په خپل کاروبار کې د ترقۍ په شکل کې هم وینم، د یارانو_دوستانو د مینې په شکل کې هم او د خپلو بچو د اطاعت، تابعدارۍ په شکل کې هم. زه د خدای پاک ډېر شکر ګوزار یم، چې زما د سوچ او زما د خیال نه سیواه ماله ډېر څه راکوي. بل لوی اثر چې ددې پاکو ځایونو په زیارت کولو خدای پاک زما په ژوند کې اچولی دی، هغه دا دی چې زه د خدای په لاره کې کله

کله د خپل ولس نه زیات خرچ وکړم، خو بیا حېران شم چې الله تعالی راته د رزق نورې ډېرې وسیلې برابرې کړي.

ما چې د حاجي ګلزار مخ ته کتل، نو په هغې یو کې اطمینان و، هغه زیاته کړه:

اصلي خبره دا ده چې تراوسه ما د ژوند هر رنګه محفلونه وکتل، بلکې زه به دا ووایم چې زما نه یو محفل هم پاتې نه دی، خو چې کوم سکون او کوم ارام د الله تعالی په یادولو کې دی، دغه څه په بل کوم محفل کې نشته. زه چې هر ځل د پاک نبي صلی الله علیه وسلم په دربار کې حاضر شم، دعا وغواړم نو په خپله سینه کې یو داسې سکون محسوم کړم، چې زه یې په لفظونو کې اظهار نه شم کولی. زه د ژوند په رنګینو عقیده نه لرم، دا ډېر مختصر او بې مانا دی. ډاکټر صاحب شاه صابر مرحوم څه ښه خبره کړې، که هرڅو دا شعر روماني دی، خو ور کې مطلب شته:

**نه او په رښتیا مینه      دا دروغ مې نه لګي**

ما تر دغه وخته پورې د حاجي ګلزار خان د ژوند یو اړخ لیدلی و،

عرفان الله کوټوال کونړی

# د ډاکټر کبیر ستوري د لیکلو اثارو فرهنګي ارزښت

تر ټولو دمخه باید لږ، تر لږه ووایم، چې ارواښاد دوکتور کبیر ستوری څوک و؟

ارواښاد ډوکتور کبیر ستوری د لعل محمد خان زوی، چې د پښتنو قومونو په لوی ښاخ یوسفزو د میرداد خېل ځانګې پورې اړه لرله، چې په ۱۳۲۱/۱/۱۷ هـ ل کال یې د خاص کونړ د سیمې په تنر کلي کې دنیا ته سترګې وغړولې.

ارواښاد لومړنی زده کړې په خاص کونړ، منځنی زده کړې د کابل په رحمان بابا لېسه کې او لوړې زده کړې یې د جرمني د فرانکفورټ، کولن او ماربورګ په پوهنتونونو کې سر ته ورسولې. نوموړي د خپلو لوړو زده کړو کړی د ساپوهنې، فسلفې، سیاسي پوهنې او د ټولنپوهنې په علومو راچاپېر کړه.

د یادو شوو علمي زده کړو ترڅنګ یې د فرهنګ په ډګر کې د سالاری بیرغ هم له لاسه نه دی غورځولی، چې ژوندی بېلګې یې د شعري ټولګو لکه (سندریز پیغام، خوږې مسرې، ژوندي خیالونه) او نور علمي او تحقیقاتي څېړنې په لیکلي ډول په میراث راپاتې دي.

ستوری صیب علاوه پردې، چې د اجتماعي، سیاسي، فلسفي او فرهنګي ژوند هراړخیزه نمونه وه، د پښتو ادب او فرهنګ د اسمان ځلانده ستوری هم و.

ارواښاد ستوري صیب د یوه ادیب او فرهنګي په بڼه د جلا مکتب څښتن و او د شعر استعدادو ته یې خپل تحلیل او مانا درلوده.





هغه په دې عقیده و، چې "شعر د انسان هغه ارزوګانې دي، چې د نامساعدو شاریطو له امله په لاشعور کې ځای نیسي، هغه ارزوګانې چې د ټولنې د دود او دستور له خوا په سزا رسېږي او د ټولنې د دود او دستور له سنګساره د تخیل کورګي ته چې یوه مجازي یا غیر حقیقي دنیا ده، فنا وړي او هلته تر هغه اوسېږي، چې ترڅو یې د پوره کېدو لپاره مناسبه زمینه برابره شي یانې تخیل د تېرل شوو او نارسېدلو ارزوګانو کورګی بولي. ددې په دوام وایي: کله چې د مینې په بدرګه، چې د ښکلا مور ده احساسات او جذبات چې د حقیقي نړۍ سره اړیکې لري، له تخیل سره یوځای شي، نو شړل شوې ارزوګانې ربښتیانی نړۍ ته لار پیدا کوي او په جرات سره تېرل شوې هیلې عملي میدان ته د کلام په بڼه، چې شعر ورته وایي، راوځي."

که څه هم د عوامو انګېرنه د شعر او شاعر په هکله جدا بڼه لري او په دې لوی فلسفي هینداره کې فقط د شهواني ذوق د خړوب تصویر ورته ښکاري او نور هېڅ نه ویني، ارواښاد شاعر "ستوری" صیب په دې اړه ددغه تعبیر ډېر ښه تفسیر کړی دی او وایي:

دا فلسفي وایي ملګرو هر انسان مئین دی
څوک په پیسو باندې مئین څوک په جانان مئین دی
د هر چا خپل کار دی چې مینې ته څنګ رنګ ورکوي
ستوری په قام، وطن، پښتو او په ایمان مئین دی

همدا شان ستوری صیب د خپل غني او پُرمامور کلتور څرګندونه په داسې یوه انداز کې کوي، چې له بېګانه دود او دستور سره د خپل طبیعت جوړښت ناممکن بولي او وایي:

هم بګتی او هم ټپه او هم بدله یمه
د نوي ژوند د نوي فن نوې سندره یمه
زه په پردي رباب کې نه راځم پردې یې شلېږي
د خپل رباب، خپلې شپېلۍ غږ سره مله یمه.

هغه یو نقل. چې وایي (وروري به کوو خو حساب ترمنځ) ښاغلي ارواښاد





ستوري صیب یو وار بیا په خپل کلام کې یه یووالي، اتفاق، اتحاد او په عین وخت کې د انصاف او عدالت غږ کړی دی او داسې وایي:

زموږ ملک د ګڼ قامونو شریک کور دی
په دې ملک کې هر یو قام د بل قام ورور دی
د خپل شمېر په کچ حق هر قام ته پکار دی
هسې نه چې د یوه تش د بل ډک شکور دی

ستوري صیب سره له دې، چې خلک یووالي ته راوبولي، د یوه سیاسي رغنده نظر خاوند و. هغه غوښتل، چې د نړۍ د نورو قومونو، نژادونو او مدني ولسونو په قطار کې خپل پښتون ولس ودروي او د اوږدې نیستی او ناروا حکمروایی څخه یې وژغوري، چې د خپل ارمان دغه پیغام خپل ولس ته داسې وړاندې کوي او وایي:

په ډګر د قامولی کې پښتون هله سیالي کړای شي
چې راټول، ټول په پښتو شي خوځښتونه راپیدا کړي
کور زموږ واک یې پردی دی دا ترڅو به وي تر کومه؟
غېرت څه شو چې خپل واک او خپل حقونه راپیدا کړي.

هغه ددې لپاره، چې خپل ولس د ارتقاء لوړ پوړ ته وخېژوي، د ملي مبارزې پر ته یې په عملي ډګر کې هم کوټلي ګامونه اخیستي وو. ارواښاد په جرمني کې د سوشل ډیموکریټ ګوند بنسټ ایښودونکی و او غوښتل یې، چې ددې سیاسي مکتب د لارې به د خپل ولس خپلواکي، حقداري، سوکالي او ترقي په لاس راوړي او همدا شان یې دخپل ولس د ارتقا په غرض د نورو سازمانونو سره هم اوږه په اوږه د خپلې ونډې بار اوچت کړی دی لکه د پښتو عالمي کانفرنس، پښتو عالمي کانوانسیون، پښتو عالمي کانګرس، د پښتنو قامي جرګه، د ډیورند د کرښې سیمینار او نورو بې شمېره ناستو او جرګو ګډونوال و، چې د پرېکړو او قطع نامو چیغه او د حق غوښتنه یې د نړۍ د هر قشر چارواکیو غوږ ته رسولې او په زغرده یې د خپل ولس د حق غوښتنه کړې ده.

نوموړي خپله مبارزه د زنځیر د حلقو په بڼه یو له بل سره تړلي او جاري





ساتلې وه. ارواښاد د خپل هدف ته د رسېدو لپاره تل له یوې لارې څخه استفاده نه کوله، بلکې هغه یو هنري مدبر و، چې غوښتل یې په یو نه یو ډول به په خپل مرام سوبمن شي، نو په دې بنیاد یې د پښتو ادب او فرهنګ په ډګر کې هم لاسونه بډ وهلي وو او ښه په درز کې یې د خپل منظوم کلام قافله یواځې دا نه، چې نه وه ودرولې، بلکې ځپانده یې ساتلې وه او همدا شان ې مرام ته د رسېدو لپاره د پلان نقشه هراړخیزه وه او ډېر تدبیرونه پکې نغښتي وو. لکه چې وایي:

د هدف لپاره لارې په ډېر غور لټوه
لار د پاره خپل هدف هېڅ وخت مه بدلوه
که د ستوري سلا اورې عملي لار ونیسه
که لنډه لاره نه وي په اوږده لاره ورځه.

د ستوري صیب د فرهنګي اثارو پیغام او هدف ډېر زیات کوټلی دی، په روانه او ساده ژبه شاعري لري، چې د فصاحت نمونه یې ګڼلی شو.

د نظم فورم یې څو ډوله لري، خو زیاته برخه یې د غزل په فورم کې بشپړه شوې ده، پېچلې استعارې کنایې او تشبیهات نه لري، نژدې هر لوستونکی ترې په اسانی سره مطلب اخیستی شي. دا یې تر ټولو ښه ځانګړنه ده. د فرهنګي اثارو بل هنري ارزښت یې دا دی، چې:

اشعار یې د پیغام له مخې د حماسې، فلسفې، عشقي، اجتماعي او کلتوري یا ولسي بڼه لري او ټولو اړخونو ته شاملېږي.

د ارواښاد پر شعري اثارو د ځغلنده کتنې دا لړۍ د نوموړي په دې کلام رانغاړم، چې وایي:

مرګ د یار کور ته ورتلل دي
که د یار ځینې رخصت دی
ځم له ستوري یې پوښتمه
مرګ سکون که حرکت دی.

* * *

**مبارز خاپی**

جرمني، بن



# کبیر ستوري

# د خیر، ښېګڼو سمبول

**کــــه ګـلان وکرئ د ژوند د سردرو په څوکو ... زه به يې سيل لره درخم د جيګو غرو په څوکو**

دا و د اروابښاد "ستوري" د زړه اواز. هغه اواز، چې د ځمکې پرمخ د لومړي انسان نه نیولې تر وروستي انسان پورې، هر کله، هر چېرته او په هره ژبه کې د هر چا له خوا رااوچت شوی او رااوچتېږي به.

هو! د ځمکې پرمخ چې کله انسان پنځېدلی او مېشت شوی، د انساني ټولنې د ژوند او ژواک د سوله ییزه، ښکلاییزه او نیاومنه چاپېریال د رامنځته کېدنې، ښارنې او ساتنې په موخه، هر کله په هره ژبه او بیا هر انسان ته د خیر او ښېګڼو لیارښوونې شوې دي. دا که د لوی څښتن په هدایاتو کې وې او که د زمانې د پوهانو او عالمانو په ویناوو کې. د اسلام د سپېڅلي دین په هدایاتو او لیارښوونو کې یوه خبره دا هم راغلې ده، چې وايي: الباقیات المصالحات" ژباړه: "څه شی چې پاتې کېږي، هغه ښېګڼې دي". زموږ په پښتو ژبه کې هم لا یو متل شته، چې وايي "خپل عمل د لیارې مل دی."

د خیر او ښېګڼو د اندونو د پراخې دودیدنې په هڅو کې د پښتو ژبې پوهانو او شاعرانو هم ډېرې خوږې او په زړه پورې ویناوې کړې دي لکه چې غیب اللیسان شاعر حضرت





عبدالرحمن بابا وايي:

**کــر د ګلو کــړه چې سیمه دې ګلزار شي**

**اغزي مه کره چې پښو کې به دې خار شي**

رحمان بابا، چې په پښتني ټولنې کې زېږېدلی، رالوی شوی او شاعر شوی، د خپلې ټولنې کره وره یې له نژدې څخه لیدلي، څارلي او شعوري غبرګون یې هم ورته ښودلی دی. دا داسې برېښي، چې پښتون ولس لا د رحمان بابا په مهال کې هم لکه د اوسني مهال په څېر په خپلو سیمو کې به د ګلونو پرځای ازغي کرل یانې په خپلو منځونو کې وروروليو او محبت د ګلونو پرځای به یې د توربورۍ او میرځۍ کرغېړن ازغي کرل او هر چا به هر چېرته د هر رنګه ازغنو اندونو او دودونو په ودې ورکولو کې، نه ستومانه کېدونکي هلې ځلې کولې. د رحمان بابا د غبرګون په څېر اروابښاد "ستوري" هم د پښتنو اوسنیو ازغنو او کرغېړنو دودونو د له منځه وړلو په لیاره کې، لا له پښتونخوا نه ډېر لرې په اروپا کې هم خپله چیغه پورته کړې او ویلي یې دي، چې:

**کــه ګلان وکــرئ د ژوند د سردرو په څوکو**

**زه به يې سيل لره درخم د جيګو غرو په څوکو**

لکه چې ومې ویل. دا هغه چیغه



ده چې څو پېړۍ پخوا د رحمان بابا له خولې نه هم راوتې وه، تو پیر دا دی چې رحمان بابا په خپل ولس کې مېشت و او د خپل ولس په مینځ کې یې خپل ولس ته بلنه ورکړې، چې د ازغنو دودونو په بدل کې د محبت او یووالي د ګټور ژوند زړي وکري. څو سیمه مو د مینې په ګلونو ګلزار او د یووالي په زرغونتیا ښېرازه شي، چې اروابښاد "ستوري" هم همدغه بلنیزه





غږ لا له پښتونخوا نه ډېر لرې په اروپا کې اوچت کړی او له هر پښتون او پښتنې نه یې غوښتي دي، چې که ددې اوسنیو ازغنو اندونو او دودونو پر ځای په خپلو سردرو کې د وروروليو، د قومي یووالي او د سیمې د ښېرازۍ په موخه د محبت ګلونه وکري، نو هغه ورځ به لرې نه وي، چې زما په څېر ډېر نور پښتانه به هم د ښو او ګټورو پوهنو، کسبونو او کمالونو سره یوځای له اروپا، امریکا او د ځمکې له نورو لرې سیمو څخه د پښتونخوا په لوري د جیګو او لوړو غرونو پر سرونو راوالوځي او راشي.

اروابښاد "ستوری" که په ژوندانه کې په دې بریالی نه شو، چې خپله پښتونخوا له ګلونو ډکه ووینې، خو د جنازې تابوت یې په ښه شانداره لمانځنو او په سترو بدرګه ییزو مراسمو کې لا د ډېرو لوړو لوړو غرونو پر څوکه له اروپا نه د پښتونخوا ښکلې سردرې (کونړ) ته د قامي وحدت د سمبول په توګه ولېږدول شو. هغه چې په خپل پلرني هېواد، په پلرني کلي کې خاورو ته سپارل شوی، له موږ دعا غواړي، د خیر دعا، د ښېنې دعا او د جنتونو دعا. د هغو جنتونو دعا، چې د لوی خدای له لوري د پښتون ولس لپاره په

**ډاکټر کبیر ستوري ته**

**رحمان الدین رحمان، کرهاله**

**تــه وې ستوری پــه جهــان کــې**

**ثــاني نــه دې وه انســان کــې**

**تــه ښاپســـت د پښتنـــو وې**

**وې یــو ګــل پــه ګلســتان کــې**

**تــه ډیــوه د علــم و عرفــان وې**

**وې کامیـــاب هـــر امتحـــان کـــې**

**مــړه پښتــو دې راژوندی کــړه**

**پــه سینه د هـــر افغـــان کـــې**

**د خپــل خــوږ وطــن پــه غـم کــې**

**لــه دنیـــا لاړې ارمـــان کـــې**

**تـــا ملـــت تـــه خـــدمت وکـــړ**

**تـــا بـــه ستـــایي هـــر زمـــان کـــې**

**ســـتا ادب رالـــه راوبـــښ کـــه**

**زمـــا روح زمـــا پـــه خـــان کـــې**

**د ادب د بــــــن بلبلـــــه**

**روح دې ښاد شه پــه اسمان کــې**

**رب دې درکـــــړي جنتونــــــه**

**د خـــدمت پـــه دې انعـــام کـــې**

* * *





اخرت کې جوړ شوي دي.

له داسې دعاوو سره سم دا هم زموږ په دنده کې شمېرل کېږي، چې اروابښاد "ستوری" هېر نه کړو او د خپلو یادونو له ذهنونو څخه یې ونه باسو.

د اروابښاد انساني اړخ ته، چې د خیر او ښېګڼو، وروروليو او د ټول پښتون ولس د یو موټي کېدلو په لیاره کې یو غټ سمبول ګڼل کېږي، د تل لپاره د منښت، له درناوی سره سم د هغه د یاد لمانځنه هم وکوو.

په داسې حال کې، چې پښتانه لا هم د ژبې، فرهنګ، اقتصاد او خپلواکۍ له پلوه د پردیو یرغلونو لاندې سلګۍ وهي او لا هم پښتانه له پوهنیزې، روزنیزې او له خدای ورکړیو شتمنیو څخه بې برخې، ویشلي، تالا تارغه پاتې دي، دغه لامل زموږ هر پښتون او پښتنې نه غواړي، چې د یو موټي کېدلو، په خپل هېواد کې د خپلې ژبې او فرهنګ د واک ترلاسه کولو او په دې توګه د اقتصادي او سیاسي خپلواکۍ د لاسته راوړلو په لیاره کې، چې د اروابښاد "ستوري" سوچه ارمان ګڼل کېده، لا له پخوانه زیات هلې ځلې وکړي، څو د زمانې له غوښتنو سره سم خپل هېواد او ولس د ښېرازۍ او سمسورتیا په درشل کې ودرولی شو. دغې موخې ته د رسېدلو په لیاره کې دغه څو ټکي باید په پام کې ولرو:

۱_ د ملت د جوړونې، روزنې او پالنې په هوډ په خپلې ملي ژبې باندې سنباله. یو غښتلی سیاسي ګوند کې یو موټی او څواکمنه کېدل.

۲_ په سیمه کې د هغه واکمنه دود پاله سیاست بنسټ له بنسټه نړول، چې غواړي پښتانه لا پسې وېشلي، تالا او ترغه وساتي.

_ د هغې ذهنیت پر ضد کلکه مبارزه کول، چې غواړي پښتانه د خپلې پښتو ژبې پرځای د اردو او د پارسي ژبو په لوري بوځي.

که غواړو چې په یوویشتمه پېړۍ کې ژوندي پاتې شو، دغه پورتني درې ټکي، چې د اروابښاد "ستوري" د ژوند تګ لیاره هم ګڼل کېدله، د خپل ژوند د تګ لیارې په توګه وټاکو او پرې ټینګ ودرېږو.

نور نو تاسې او د ستاسو سیاسي پوهه. برې د لوی خدای له لوري دی.

* * *

وجیه الله شپون



# د پښتو ـ پښتونولۍ ستوري

د دنیا پـه سـر ډېـري ژبـې موجـودې دي، چـې ویـونکي یـې د خپلـو ورځنیـو ټـولنیزو روابطـو، اړتیـاوو او راکـړې ورکـړې لپـاره د ټـولنیزو پدیـدو پـه لـړ کـې د افهـام او تفهیـم د وسیلې پـه توګـه کـاروي. د هـرې ژبـې ویـونکي هڅـه کـوي، چـې د خپلې ژبـې د الفـاظو، کلمـاتو، ګړنـو او اصـطلاحاتو لمـن پراخـه کـړي، خپلـه ژبـه د علـم ژبـه کـړي، د نـورو کتابونـه او آثـار پـه خپلـه ژبـه راوژبـاړي او بـالاخره د الفـاظو او کلمـاتو لـه پلـوه خپلـه ژبـه نسبي خود کفـا کـړي. ددې تـرڅنګ هـر سـړی کوشـش کـوي. د خـپلې ژبـې تـرڅنګ بلـه ژبـه هـم زده کـړي، چـې دا کـار د مورنـۍ ژبـې پـه ترقـۍ کـې هـم پـوره اغېـز لـري، خـو یـوه خبـره د یـادونې وړ ده او هغـه دا، چـې لومـړی بایـد مورنۍ ژبه سړی زده کړي، بیا پردۍ ژبه، څکه یو شاعر وایي:

پردۍ ژبه زده کول که لوی کمال دی
خپلــه ژبـــه هېرول بې کمـــالي ده

پـه ربښتیـا هـم د سـړي کمـال هلـه دی، چـې لومـړی خپلـه ژبـه زده کـړي، خبـرې پـرې وکـړي، ویـې پـالي او پـه ویلـو یـې ونـه شـرمېږي او ورپسـې د پـردۍ ژبـې زده کړې ته ملا وتړي. په دې اړه ارواښاد ډاکتر کبیر ستوري وایي:

ښه ده ډېره ښه ده چې په سل ژبو خبرې کړي
بـده خـو یـې دا ده چې پخپلـه ګړېـدی نـه شـي
دی د ځان قاتل دی، بل دښمن ته حاجت نه لري
دا قاتـل د ځـان خـو، د پښتـو پکارېدی نـه شـي

او یا دا:





دا دسـتور دی چـې لومـړی پېژنـد د ځـان شـي
پـس لـه هغـې بیـا پېژنـد د نـور جهـان شـي
چـې پخپلـه پښتـو ژبـه لیکـل نـه کـړي
دا لیکـوال دې د نالوسـتي نـه قربـان شـي

ژبـه د کلتـور د انتقـال لپـاره د ارابـې حیثیـت لـري. څـوک چـې لـه خـپلې ژبـې نـاخبر وي، لیـک لوسـت او خبـرې پـرې نـه کـوي، ددغـه قـوم لـه کلتـوره بـه نـوره نـړۍ څنګـه خبـره شـي او پـر هغـوی بـه څـه اثـر وکـړي، بـرعکس د دوی پـر کلتـور بانـدې بـه بېګانـه کلتـور مسـلط شـي. ارواښـاد سـتوري دغـه کـار ذهنـي کـړکېچ، غمـه بدبختي او د ځان قتل ګڼي، لکه چې وایي:

چـې لـه ژبـې او کلتـور خپـل نـه جـدا شـي
پـه ذهنـي کـړکېچ اختـه بـه خامخـا شـي
لـه دې غمـه بـدبختي پـه دنیـا نـه شـته
چې قاتـل څـوک د خپـل ځان او د اشنا شي

او یا دا:

چـې څښـتن د خـپلې ژبـې، کلتـور نـه وي
که باچا د ټول جهان شي خوښ مې نه دی
چـې د بـل لـه وېـرې خپلـه ژبـه پرېږدي
که افسر او یا سلطان شي خوښ مې نه دی

او یا دا چې وایي:

ژبـه بـه د قـام او د ولـس خپلـه درنـه کـړمـه
ننګ که څوک کوي نو په پښتو باندې په کار دی
لیـک او لوسـت پخپلـه ژبـه لار د پرمختیـا ده
هـر قـام چـې اوچـت ختلـی، تللـی پـه دې لار دی
نه چې کړي پښتو په پښتو باندې، پښتون نه دی
ستوری دا پښتـو خـو د پښتـون ډول و سینګار دی.

البتـه د نـړۍ اکثـره ژبـې بـه د ویـونکي قـوم د هویـت نماینـده ګـي کـوي او د هغـوی د افهـام او تفهیـم وسیلې دي، خـو پښتـو ژبـه پـر دغـه چـار سربېره یـوه بلـه ځانګـړنـه هـم لـري، چـې یـواځې ددې ژبـې پـورې مختصـه او منحصـره ده او د نـړۍ بلـه ژبـه دغـه





ځانګـړنـه، نـه لـري. یـانې پښتـو د پښتـون قـوم د ژبـې او افهـام و تفهیـم د وسیلې تـر بریـد هـاخوا، یـوه بلـه مانـا هـم پـه ځـان کـې رانغـاړي او هغـې تـه د ځـانګړو قوانینـو، اصـولو، ضـوابطو، اخلاقـو، اوصـافو، ادابـو او دودونـو ټولګـه وایـو. بـې ځـابـه بـه نـه وي کـه خبـره داسـې تفسیر او تعبیـر کـړو، چـې پښتـو دوه اړخیـز مفهـوم افـاده کـوي، لومـړی یـې ظـاهري او وسیله یـي او دویـم یـې مـانوي او تهـذیبي دی. لکـه چـې دې موضوع ته ارواښاد ستوري داسې اشاره کوي:

پښتـــو پـــت، ښېګڼـــه، تـــوره او وفـــا ده
چـې ورزیـات کـړي ننګ پښتـون ترېنـه جوړېږي
دا خویونـــه د پښتـــون د ســـرېتوب دي
بـې پښتـو چـې شـي پښتـون کلـه یادېـږي
ســتوري وایـــي مـــا ده ښـــه ډېـــره څېـړلې
تـش پـه وینـه بانـدې څـوک نـه پښتـون کېـږي.

او یا دا:

چې هـم تهـذیب دی هـم خـوږه د ګړېـدو ژبـه ده
ملګـرو غـوږ شـئ دا زمـوږ خپلـه پښتـو ژبـه ده
د فـن ښکـلا ده د هنـر پـه ګلـدرو کـې اوسـي
د روح غـــذا ده د ســـندرو او نغـــو ژبـــه ده
ختـه یـې خـدای د پـت، ښېګنې او وفـا جـوړه کـړه
د پښتونخـــوا د دنګـــو غرونـــو ســـردرو ژبـــه ده
ښه یې کړه یاده چې بیا سوچ هم په پښتو کې کوې
د ژونـد ګلـبڼ کـې د ژونـدون د ترانـو ژبـه ده.

دې پښتـون شـاعر د خـپلې شـاعرۍ ټولـه منځپانګـه د پښتـو، پښتونولـۍ پـه محـور څرخـولې ده. هـر کـار یې پـه پښتنـي کرکټـر او انـداز کـې خوښېـده. مینـه یـې پـه پښتنـي خـم کـې رنـګ خوښېـده، د ټـولنیزو مسـایلو او موضـوعاتو حـل یـې د پښتونولـۍ پـر بنسـټ غوښـت، د خپـل قـامي تشـخص د ډاګیـزه کېـدو او د زمـانې د بدلون لپاره پر پښتني کړنلارې باوري و، لکه چې وایي:

رنګ ته رنګ د مینې ورکړه تازه کړه د یارانې رنګ
وخت روان دی نه ودرېږي نوی کړه د قافلې رنګ
پښتو مخکې کړه جانانه چې کړنلار دې پښتنه شي





خپـل قـامي تشـخص غـواړه بـدلوه د زمـانې رنـګ
د پښتو پـه لار روان شـه د جرګو دود راژوندی کړه
پـه جرګو ټل بدل کړی موږ د هر راز کشالې رنګ

دده پـه انـد کلـه چـې سړی د مینې پـه قـانون وپوهېـږي، هلـه یـې زړه، احسـاس او سـوچ پښتـون شـي، نـو پـه مینـه او عشـق د پښتونـوالې پسـرلی وزرې خپـرې کـړي او د ژوندِ شپې ورځې روښانه شي.

چې جانـان لـوی شـي پـوه د مینې پـه قـانون شـي
زړه یې پښتون، احساس پښتون، سوچ یې پشتون شي
بیـا بـه پـه عشـق کـې پسـرلی د پښتونـوالې راشـي
ورځ بـه پـه لمـر، شـپه بـه پـه سـتورو روڼ شـي

همدارنګـه دی هغـه پښتانـه مشـران انتقـادوي، چـې چوکـۍ او منصـب تـه ورسـېږي، بیـا نـور د پښتـو څـه پـروا نـه سـاتي او د خـپلې چوکـۍ د سـاتلو لپـاره محافظه کارانه سیاست کاروي.

پښتـو چـې د پـتمن پښتـون ولـس د زړګـي سـر ده
د خپـل وزیـر پاچـا لـه لاسـه سـر وهـي تـالا ده
پښتون چې څوک کړي مشر او خاوند شي د کرسۍ
هغـه بـس ماتـه کـړې دا د خـپلې پښتـو مـلا ده

لنـډه دا چـې ارواښـاد سـتوری پـر پښتـو ژبـې او پښتنـي کلتـور مئـین، د فکـر او قلـم خاونـد، ټـولنیز شخصـیت او د پښتنـو د یـووالي او بېـدارۍ ارمـانجن و، خـو لـه بـده مرغـه چـې د مرګـي څپېـړې دغـه پښتنـه هسـتي پـر پښتنـو نـوره ونـه لورولـه او د ۲۰۰۶ کـال د اپریـل پـه څلورمـه نېټـه یـې لـه دې فـاني نـړۍ څخـه د تـل لپـاره سـترګې پټې کړې. روح دې ښاد وي.

د ادبـي لیکنـې د حسـن اختتـام لپـاره د هغـه لانـدې دعایـه بیتونـه ستاسـې درانـه حضور ته وړاندې کوم:

پاکـــه ربـــه ښـــاد آبـــاد دا پښتانـــه کـــړې
د نـــړۍ پـــه ولســـونو کـــې درانـــه کـــړې
د بخت ستوري یې روښان کړې په اسمان کې
خپـل وطـن کـې یـې واکمـن او کوربانـه کـړې.

* * *

**نجیب الله کونړی**

د چاپېریال ساتنې رئیس



# د پښتونخوا پښتنو ته د ډاکټر کبیر ستوري پیغام

د سبا ستوري تــه رڼـا جـوړه که
چې یې پښتون نو پښتونخوا جوړه که

**یادونه: دغه مضمون د ارواښاد ستوري په یادغونډې کې چې په اسداباد کې جوړه شوې وه، اورول شوې.**

مخکې لـه دې، چې خپلې اصلي موضوع تـه راشم، اجـازه راکـړئ چې د تـالار ټولـو درنـو او ښـاغلیو د ادب مینـه والـو او د غونـډې ګـډونوالو تـه د زړه لـه کـومي هر کلـی او ښـه راغلاسـت ووایـم. لـه هـر کلـي وروسـته د ښښـونکي او سـتر څښـتن تعـالی پـه سـپېڅلي دربـار کـې د درونـد مشـر ډاکتـر عبـدالکبیر سـتوري صـاحب پـه حـق کـې لاس پورتـه کـوم، چـې د هوسـا او ارام ژونـد لورینـه پـرې وکـړي او وروسـته پاتې نسل ته یې د صبر جمیل او زغم ارزومند یم.

درنو ګډونوالو!

ښـاغلی ډاکتـر کبیـر سـتوری د لعـل محمـد خـان زوی او د بـرې پښتونخـوا د کونړونـو ولایـت د خـاص کونـړ ولسوالی د تنـر پـه کلـي کـې زېږېـدلی و. لومړنـی زده کړې یې د خپل کلي په لومړني ښوونځي کې ترسره کړې.

کله چې ډاکتـر کبیـر پـه کابـل کـې د رحمـان بابـا لـه لیسې څخـه فارغ شـو، د لوړو زده کـړو لپـاره یـې جرمنـي تـه د نـوم انتخـاب وشـو. هلتـه یـې پـه سـاپوهنه یـانې سـایکالوژی کـې دوکتـورا ترلاسـه کـړه. لنـډه دا چـې ډاکتـر صـاحب د پېژنـد ګلوی محتـاج نـه دی، هرڅـوک یـې د پښتني خـوی او پښتونولی لـه املـه داسـې پېژني لکـه د اسمان پرمخ د سبا پړقېدونکی ستوری.





پښتانـه او پښتونخـوا وربانـدې ډېـره ګرانـه وه او هـر وخـت بـه ددې سـیمې د ښېرازۍ په فکر کې و. لکه چې وایي:

دا سـتـوري د اسمان ورتـه رڼا کوي ولاړ دي
نقشه کې د نړۍ د پښتونخوا نوم لیکل کېږي

ډاکتـر صـاحب د پښتنـو ټولـو سیاسـي مشـرانو سـره بې کچـه مینـه درلـوده، خـو د دوی پـه بې اتفاقـۍ او خپـل منځـي اختلافـاتو بـه هـر وخـت خوړېـده. د ډاکتـر صـاحب ددغسې مینې لامـل و، چـې یـورپ میشـتو پښتنـو لـه ډېـرو لـرې لـرې ځـایونو څخـه جرمنـي تـه ځانونـه ورسـول او د هغـه پـه جنـازه کـې یـې ګـډون وکـړ. کلـه چـې د مرحـوم جنازه پېښـور تـه راورسـېده، هغـه ځـای تـه کـوم ځـای چې نومـوړي پـه خپـل ژونـد کـې لـه خپلـو خواخـوږو مشـرانو سـره یوځـای اتلـس میاشـتې بنـدي و، د دغـه ځـای مشـرانو جنـازه د ډېـر درنـاوي پـه حـال کـې چـې ټـول غمـژن وو، تـر تـورخم پـورې بدرګـه کـړه. هغـه ورځ مـې نـه هېرېږي، چـې د مرحـوم ډاکتـر صـاحب پـه جنـازه کـې مـې ګـډون درلـوده او پـه زرګونـو خلـک د دولتـي لـوړ پـوړو چـارواکیو پـه شـمول پـه جنـازه کـې شـریک شـول. دغـه ورځ ډېـره درنـه او د غـم نـه ډکـه ورځ وه، چې ارواښاد تورو خاورو ته وسپارل شو.

د کبیـر سـتوري د پـام وړ ځانګړتیـا دا ده، چـې نومـوړي پـه خپـل څلـور شـپېته کالـه عمـر کـې لـه خپلـو هېوادوالـو سـره هـر وخـت د پښتـو او پښتونولـی پـه بـاب فکـر شـریک کـړی او ددې تـرڅنګ یـې خپلـو زامنـو هـر یـو: بصـیر سـتوري، نصـیر سـتوري، امیـر کـروړ سـتوري، نسـیم سـتوري او ایمـل خـان سـتوري تـه دا درس ورکـړی و، چـې پښتـو دې وایـي، د پښتونخـوا سیمې مشـرانو تـه دې درنـاوي کـوي او پښتـو دې کـوي او خپلواکـه دې اوسـي، چـې دغـه سپارښتنه پـه څـومره تاکیـدي او قوي انداز کې کوي:

ستوریه! د قلم په څوکه کړ د خپلواکی کوه
چـا چې څه کرلي هم هغه څه یې ریبلي دي

کـه د خپلـو بچـو پالنـه داسې کـوي، نـو بـل پلـو تـه لـه پښتـون عـالم او زاهـد څخـه هم د پت، پښتو او امان غوښتنه کوي، لکه چې وایي:

چې زر محل ته سجده نه کړي صرف کعبې ته یې کړي
داسې زاهـــد، داسې امـــام، داسې مــــلا غـــواړم





**ارواښـاد مینـه کـړې، خـو د خـط او خیـال مینـه نـه، بلکـې د پښتونخـوا لـه سـردرو سره. لکه چې وایي:**

**ستوری په وطن مئین دی نه دی په شین خال مئین**
**ټولـــه شپـــه ګزمه د پښتونخـوا پـــه سر درو کوي**

**کـه عـامو پښتنـو تـه د یـووالي او وحـدت مشـوره ورکـوي، نـو یـو قـوي مثـال راوړي. لکه چې وایي:**

**هـــره څانګـــه خپلـــه ونـــه کـــې لویېـــږي**
**چـــې لـــه ونـــې څانګـــه غوڅـــه شـــي وچېـــږي**
**عاقبـــت یـــې ورکېـــده دي ســـتوری وایـــي**
**چـــې لـــه خپـــل کلتـــور او ژبـــې پـــردي کېـــږي.**

**دولتـي چـارواکي هـم پـه ادبـي شـکل د انتقـاد لانـدې نیسـي او داسـې مشـوره ورکوي:**

ګنـاه د بـل چـا نـه ده، دا زمـوږ خپلـه ګنـاه ده
پښتـو، پښتونولـی تـه اړولـې چـې مـو شـاه ده
پښتون چې څوک کړي مشر او خاوند شي د کرسی
هغـه بـس ماتـه کـړې دا د خپلې پښتـو مـلا ده.

**خـو چـې کلـه لـه ځوانـانو سـره د پښتونولـی مشـوره کـوي، دلتـه لـه حکمـي انـداز څخه کار اخلي. لکه چې وایي:**

**پـــه ناسته نه شي خوځېدل غواړي**
**څوک چې منزل ته رسېدل غواړي**

**درنو ګډونوالو او د قلم څښتنانو!**

**ددې لپـاره چـې موضـوع راڅخـه اوږده نـه شـي، لنـډ بـه دومـره ووایـم چـې ښـاغلی ډاکتـر کبیـر سـتوری یـو پیـاوړی لیکـوال، اراپـوه، پـه پښتـو او پښتونخـوا مئـین شخصـیت و. د هغـه د ژونـد تـر ټولـو لـوی ارمـان دا و، چـې پښتـون قـوم بایـد د چـا غـلام ونـه اوسي، دا سـاهو قـوم بایـد هسـکه غـړۍ پـه خپلـه سیمه پښتونخـوا کـې ازاد ژونـد وکـړي، خپلـه شـتمني ولـري، خپـل سیاسـت ولـري او پـه خپلـه ژبـه دې لیـک لوست وکړي او خپلې ژبې ته دې په ازاد مټ خدمت وکړي.**





نـن ورځ مـوږه پـه داسې یـوه غونـډه کـې ګـډون لـرو، چـې ددغـه فکـر خاونـد زمـوږ او ستاسـو منـځ کـې شـتون نـه لـري او جسماً د تـورو خـاورو لانـدې قـرار لـي، خـو پـه ډېـر جـرأت ویـلای شـم، چـې پـه مـانوي او فکـري ډول زمـوږ او ستاسـو ټولـو پـه زړونـو کـې موجـود دی او موجـود بـه وي. ددې لپـاره چـې د ارواښـاد د فکـر شـمعه تـل پـاتې او روښانه وي، موږ او تاسو ته څه کول پکار دي؟!

مرحوم ملنګ جان څه ښه ویلي:

څوک چې د پښتو په نوم ښاغلي دي
هغـــه د پښتو پـــه مـری غلي دي

د ادب مینـه والـو، پیـاوړو لیکـوالانـو او کونـړ مېشـتو او لـه نـورو ځـایونو څخـه راغلـو ښـاغلیو! اجـازه راکـړئ، چې څـو خبـرې پـه دې اړونـد وکـړم، چـې مـوږ او تاسـو پښتـو او پښتونولـی تـه څـومره څـه کـړي دي؟ څـومره څـه پکـار دي؟ او څـومره څـه بایـد وشي؟ او څه ډول وشي؟

درنو ښاغلیو!

مـوږ خپلـه سیمه لـرو، خپلـه خـاوره لـرو، خپلې اوبـه لـرو، خپلـه هـوا لـرو، خپـل غرونـه لـرو، خپـل ښېـرازه او سرسـبزه ډاګونـه لـرو، خپـل ځنګلونـه او ملـي شـتمنی لـرو، خپلـه ژبـه او کلتـور لـرو، خپـل مـاغزه لـرو، خپـل لاسونه، پښـې، خـولې او پـه خولـو کـې خپلې ژبې لـرو، چـې د مـور لـه غېږې څخـه وربانـدې پـه پښتـو ژبـه خبـرې کـوو، ځانونـه پښتانـه بولـو، پښتـو خپلـه ژبـه ګڼـو، ولـې وږي یـو؟ ولـې تـږي یـو؟ ولـې غریـب او بېوزلـه یـو؟ ولـې تـل د بـل پـه لمـن کـې اوسـو؟ مـوږ هرڅـه لـرو، مفـاغر لـرو، حکومـت لـرو، ژونـد لـرو، ولـې پښتـو او پښتونـولي نـه لـرو؟ راځـئ چـې پـه کلـک او غښتلي ډول ډا هـوډ وکـړو، چـې پښتـو بـه وایـو، پښتـو بـه لیکـو، پښتـو بـه لولـو، پـه پښتـو بـه خپـروني لـرو، د پښتـو او پښتنـو بـه درنـاوی کـوو او خپـل کلتـور او فـرهنګ به تل ژوندی او خوندي ساتو.

پـه پـای کـې د ارواښـاد ډاکتـر عبـدالکبیر سـتوري نـه سـتړي کېـدونکي خدمتونـه، کـوم چې یې پښتـو ژبې او پښتنـو تـه کـړي، همېشـه بـه یـې یـاد تانـد او تازه ساتو او د مرحوم په دغه بیت به د خپلې وینا د پای لمن راونغاړم:

حالات که راله نه پرېږدي په زړونو کې پښتو
زمـــوږه خـــو بهېږي پـــه رګـونو کې پښتو.

رضوان الله شپون

# خدمت دې څومره په ما پور دی
# چې ژوند پرې درکړم نو به څومره باقي شمه

نن موږ د هغه چا په اړه خبرې کوو، څوک چې سیاستمدار و، څوک چې شاعر او لیکوال و، څوک چې ژورنالیست و.

هو کې! ډاکتر کبیر ستوري یادوم. ستوری د ۱۳۲۱ هـ ل کال د وري په (۱۷)مه نېټه د خاص کونړ د تنر په کلي کې د مرحوم لعل محمد خان په کور کې نړۍ ته سترګې پرانیستي.

ستوری په هډ پښتون، په ټبر میردادخېل یوسفزی دی، لومړنی زده کړه یې د خاص کونړ په لومړني ښوونځي او د کابل د رحمان بابا په لیسه کې سر ته رسولي دي. د افغانستان حکومت ستوری جرمني ته ولېږه، د جرمني د فرانکفورټ، ماربورګ او کولن په پوهنتونونو کې یې د ساه پوهنې یا Psychology په څانګه کې خپلې لوړې زده کړې د دوکتورا تر کچې بشپړې کړې. په ۱۹۷۵ م کال د کړنې د ساه پوهنې د نړېوالې ټولنې غړی







غړی وټاکل شو. ستوري د یو ملي احساس له مخې په المان کې د مېشتو پښتنو ورونو د یووالي او یو موټي کېدو لپاره "پښتون سوشل ډیموکراټیک پارټي" جوړه کړه.

اروابښاد ستوری سرېېره پر دې، چې لیکوال، شاعر او ژورنالېست و، د سیاست په ډګر کې هم یوه پېژندل شوې څېره وه.

اوس به د اروابښاد ستوري د ادب ګلبڼ ته سر وربښکاره کړو.

مبالغه به مو نه وي کړې که ووایو، چې ستوری سوچه پښتون شاعر دی، ځکه د ستوري هر شعر د پښتو او پښتونولی په رنګ دی، له شعر څخه یې د خوږې پښتو خوږ بوی راځي، د شاعرۍ یو ښه خاصیت یې رواني او سلاست دی. ستوری په پښتو مئین، ستوری د پښتو مجنون او پښتو د ستوري لیلا وه. ستوري له پښتو ژبې سره دومره پاکه، سپېڅلې او فطري مینه لرله، چې سر یې ور کاوه، خو پښتو یې نه ور کوله، پښتو یې پت ګڼله، ځکه خو یې ویل:

*ساه مې واخله خو پښتو رانه وانخلې*
*زه پښتون یم په پښتو باندې پتمن یم*
*که زما ستوري په قبر چېر ته راغلې*
*په پښتو راته دعا کړه پرې مئین یم.*

او یا دا چې:

*زه پښتون یم پښتنې زما جهان دی*
*سر او مال مې د پښتو ځنې قربان دی*
*په پښتو باندې ژوندی، په پښتو پایم*
*پښتو ننګ، پښتو غېرت، پښتو ایمان دی*

کله چې پښتون ته د یووالي، خپلواکۍ او ورورولۍ غږ کوي، د شعر په هنري ژبه ور ته وایي:

***پاخېږه پښتونه نن د قام او قامولۍ وخت دی***
***پرېږده ترېګنۍ د اتفاق او ورورولۍ وخت دی***
***وګوره قامونو د دنیا ته چې ازاد شولو***
***واک یې خپل راخپل کړلو په خپل وطن کې ښاد شولو***

ستوري ته له هر ښکلي څیز څخه خپل قام او پښتونخوا ډېره خوښه ده، ځکه خو یې دغې مینې په شعر هم اغېز ښندلی دی، دغه مینه یې په شعر کې هم رانغاړلې ده:

***که د چا دا او د چا دا خوښه ده***
***زما د خپل قام ارتقا خوښه ده***
***که څوک یورپ کې په بنګلو کې خوښ وي***
***د ستوري خپله پښتونخوا خوښه ده***

د شعر په هنري الفاظو کې پښتنو ته ډاډ ور کوي، چې یوه ورځ به پښتانه د یووالي او وحدت په ټغر





کېني او پښتون به په خپل کور کې واکمن شي:

***ذهنونه اوښتلي د حالاتو رنګ بدلېږي***
***څه نوی شان خوځښت دی غېرتونه راوېښېږي***
***د ژوند د بې وسۍ توري تیارې په ورکېدو دي***
***پښتون په یو مرکز د قامولۍ باندې ټولېږي***
***دا ستوری د اسمان ورته رڼا کوي ولاړ دی***
***نقشه کې د نړۍ د پښتونخوا نوم لیکل کېږي***

یو شاعر وایي:

***چې طبیب د خپلې ژبې وي حبیب شي***
***خو له مرګه وروسته هر چا ته قریب شي***

ستوری خو طبیب و، په رښتیا چې له مرګه وروسته هر چا ته قریب شو. ستوری د هر ناروغ پښتون لپاره شعري نسخه ولیکله، د هر چا د مرض درمل یې په شعر کې ور کول.

ستوری د سیاسي او ادبي کارونو تر څنګ خپلې ژورنالېستیکي چارې د المان غږ راډیو په پښتو څانګې کې د ویاند په توګه پرمخ بېولې.

ستوری د ۱۳۸۵ هـ ل کال د حمل په ۱۵ مه (چې د ۲۰۰۶ م کال د اپریل له ۴ مې سره سمون خوري) د ګل په ورځ، د سهار په ۵ بجو د زړه د ناروغۍ له امله د ژوندو له کاروانه بېل او د ابد غېږ ته یې پناه یووړه.

"سکروټه" چې د ستوري شعري ټولګه ده، تل به ځلېږي، "خوږې مسرۍ" به یې هېڅکله تر خې نه شي، "ژوندي خیالونه" به یې تل ژوندي وي، "د قلم توره" به یې تل تېره وي.

اروابښاد ستوري پښتو ادب ته څوارلس چاپ او ناچاپ آثار د یو تلپاتې یادګار په ډول پرېښودل.

## غزل

**اروابښاد صاحب شاه صابر**

خوک دې نه وایي چې ماته ګناه نه شته
د کابل په جنګ کې چاته ګناه نه شته

ما خو وې چې ته پخپل اختیار کې نه یې
ما خو تاته وې چې تاته ګناه نه شته

چې په خلکو کې د عقل تړې نه وي
که دروغ وایي ملا ته ګناه نه شته

مونږه څه ورکړي ځنګه تړې څه غواړو؟
نوې ژوند، نوې دنیا ته ګناه نه شته

چې زمونږه د بلا سره یاري ده
که بلا مو خوري بلا ته ګناه نه شته

موږ د خان سره څه ونه کړه صابره!
موږ په خان کړي دنیا ته ګناه نه شته.

***





## د یو ښوونځي د نومولو په اړه په کونړ کې د اروابښاد ډاکتر کبیر ستوري د یاد غونډې پرېکړه لیک

د ۱۳۸۶ هـ ل کال د وري (حمل) د میاشتې په (۱۵)مه نېټه د کونړ ولایت په مرکز اسدآباد کې د هېواد ملي مبارز او مِلي شخصیت څېړونکي، لیکوال، اروا پوه، شاعر او ژورنالیست اروابښاد ډاکتر کبیر ستوري د لومړۍ تلین په مناسبت یوه علمي او ادبي لویه غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې د هېواد په دننه او بهر کې د کولتوري ټولنو په یو شمېر پیغامونو کې یادونه شوې ده، چې د کونړ ولایت یو ښوونځی دې د ډاکتر کبیر ستوري په نوم ونومول شي.

موږ د کونړ د بېلا بېلو کولتوري ټولنو غړي او ددې درنې غونډې ټول برخه وال د کونړ ولایت له چارواکیو څخه په کلکه او په درناوې هیله کوو، چې ددې ولایت د خاص کونړ یوه لیسه دې د اروابښاد ډاکتر کبیر ستوري په نوم ونوموي

په درناوي



# د "ستورو" رڼاګانې

## د ډاکټر کبیر ستوري په یاد

بصیرالحق عادل

د ادب لـه اسـمان خـو سـتوري راوغورځېـدل
ډېر شخصـیتونه لـه فـاني دنیـا نـه وکوچېـدل

ډېرو لـه خانـه سـره سـتړي ارمانونـه یـوړل
د هر باطل سـره پـه هـر سـنگر کـې وجنگېـدل

د لیکوال "ستوري" یاد به تل ژوندی ژوندی ساتو موږ
خکه وطن تـه یـې بـې شـماره خدمتونـه کـړي

زمونږه مشر زموږ ملي شخصیت دغـه "سـتوری"
ددې مظلوم ولس زخمو ته یـې ملهمونـه کـړي

هـر یـو الـر یـې ملغلهـر ده د نـن زمـانې
مونـږ یـې هنـر، ادب، لیکنـو تـه سـلام کـوو

ډېرشـازلمي یـې هڅـولي د وطـن میـنې تـه
عادله شعر، غزل، قطعې تـه یـې احتـرام کـوو

***

## غزل

عصمت الله ملنګ

دا سـتا لـه سـترګو چـې ورېـږي مینـه
ولا د زړه مـې هـم خوښېـږي مینـه

د زړه انګـړ تـه مـې چـې راشـي کلـه
داسـې لـه ویـرې نـه لړزېـږي مینـه

الفـاظ د میـنې یـې د شـونډو پـه سـر
په خوله یې پاتې شـي شـرمېږي مینـه

د مخ زیـارت کـې د ثـواب پـه خـاطر
چـې شونډې کېږدم غوسه کېږي مینـه

عصمته جـوړ کـړه د غـزل نـه تصـویر
چـې ورتـه ګـوري او ژړېـږي مینـه.

***





## وحدت

قاضي عصمت الله روحاني

دوه زړونـو بـه پیونـد کـې وي ژونـدون
جـوړ چـې مینـې سـره وینـه کـړي ګـډون
عاطفـه وفـا چـې شـي غـاړه پـه غـاړه
اتفـاق یـې یـو لـیلا کـړي بـل مجنـون
عقـل پوهـه چـې یـو بـل سـره پخـلا شـي
هغـه عکـس ابـن سـینا شـي افلاطـون
اکسیجن او هایډروجن جـوړې اوبـه کـړي
نتیجـه ده د جوړښـت د پېوسـتون
او په خاورې شي یو ځای سیمه ګلزار کـړي
ملګرتیـا پـه کـې پیـدا کانـدي بـدلون
خوشبیني او خواخـوږي چـې شـي ملګـرې
بنـوا کـړي د خطـر خیـنې مصـئون
چـې نیکـي او مـروت چـا سـره وشـي
د بـې وزلـه زړه پـه مرسـته کـړي مـدهون
عناصـر چـې سـره ګـډ او خمیـره شـي
نـو کمـزوري تـه دوا شـي او معجـون
ننګ چـې کلـه شـهامت سـره یوځـای شـي
سـمندر پـه څپـو راولـي پـاځون
چـې قطـره قطـره اوبـه سـره یوځـای شـي
پـه اخـر کـې یـا سیحون شـي یـا جیحـون
چـې همـت شـي د غیـرت سـره ملګـری
جـوړ شـي عـزم د افغـان زړه پښتـون
اتحـاد او اتفـاق واړه قـوت دی
چې ولس وکـړي پـه خپـل منـځ کـې تـړون
پـه ترکیـب او امتـزاج کـې برکـت دی
پـه نفـاق کـې بـدمرغي راځـي بېلتـون
ورور چـې ورور نـه مـرور شـي او جـدا شـي
دواړه شـي پـه جدایـي کـې جیګرخـون
چـې تقـدیر کلـه تـدبیر نـه مخـالف شـي
عقـل نـه لـري د بخـت سـره سـمون
د ارټ د منګـوټي پـه خبـر تاوېـږي
د نـړۍ محـور عـادي پـه اوښتـون
لمر چې ځمکې نه پناه شـي توره شپه شـي
سـبا بېرتـه بلـې خـوا تـه شـي راسـتون
پـه افـق کـې چـې د حسـن تجـلا شـي
تـورې شپې پسـې ښکـاره شـي سـباوون
سـالم فکـر کـې چـې پوهـه او شـعور وي
د انسـان پـه ګټـه جـوړ کانـدي مضـمون
چې سپوږمۍ د یار د مخ سره یوځای شـي
روحـاني د هسـک اسـمان نـه شـي ممنـون.

***

## غزل

اروابناد صاحب شاه صابر

د خپـل نظـر زورور تیـا ګـوري
زمـا قاتـل پـه مـا کـې ساه ګوري
څـه نـوی رنـګ نـوې رڼـا ګـوري
سپرلی چاپېره ګرځـې تـا ګوري
ماته په دې سرې کې غلا ښکاري
دا سرې ښکلو تـه پـه غلا ګـوري
واعظ به څه د ژوند کتاب ولولي
هغـه پـه ټکـو کـې ګناه ګـوري
زمـا احساس مـا لـه سـزا راکـوي
زمـا پـه سـترګو څـه بلا شـوې ده؟
کـه تاتـه نـه ګورمـه تـا ګـوري
صـابره څنګـه تاتـه وګورمـه
دنیـا تـه نـه ګـورې، دنیـا ګـوري.

***





## ډرام

عرفان الله کوتوال

دا زمـا د ژونـد قیصـه ده څـه رنګینـه ډرامـه ده
هلته کوزه د چوپړۍ سـره وړه غونـډې چـوتره ده
له سـهاره تـر ماښامـه زمـوږ د ټولـو دا روزګـار دی
د دادا سـره تسـکوره د لالا سـره ببلچـه ده
د پتـې نـه تـر چوپـړۍ د بچـو مـور تـه اواز کـړم
شابه زر شه سوکړک راوړه وړې شوی یم غرمـه ده
هغه ووایې سرتوره دې سـوکړک سـره څـه وکـړم
لږ راسوری ته شه راشـه اوس یـې یـوه ډډه پخـه ده
او د سوې چینار خوا کې یو شلېدلی شانته کټ دی
د شلېدلي کـټ ترڅنګـه د شړومبو کټۍ پرتـه ده
شل بچـې مـې کوربانـه د مېلمنـو سره راتـاو دي
ددې ټولـو مېـنځ کـې لـوی ښانـک اوګـره ده
ښه جرګه یې پورې والی ده په خوند سره لګیا دي
وایي خوري ډېره ښـه ده چـې زمـو خپلـه قلبـه ده
کنه موږ به په اوګره، اوګره روزۍ پسې ځانده وی
باچایي خو خورې ګـوره زمـوږ دغـې سـېره ده
له دې مځکې باچایي کې به لا هر شی په یو لـک و
اوس لا بل ډول روپۍ ده چې توبه خوري توبـه ده
ماته شل اوازه کېږي پـر مـا شـل تـوکي راغـواړي
لویـه خدایـه څـه بـه کېـږي دا زمـا برخـه وړه ده
له سهاره د کور تـوکي دا نعـرې او سـورې وکـړي
مالګـه راوړه، ګـوره نشـته د غـوړو تشـه ډبـه ده
پـه پښـو یـې ډاولـې نشـته او جـامې د ټولـو نشـته
د انۍ دوا هم راوړه چـې پـه دوه سـترګو ړنـده ده
وړه خوځه کوې چې نشـته وابنـه نشـته سابه نشـته
د ورېشـو یـوه ډوډ ده هغـه هـم نیمـه اومـه ده
درته نور پـه ګوتـه یـو یـو ویلـې نشم پکـې ګـوره
مخامخ درته خړېږي د ټـول کـور خـړه شیشـه ده
زه کوټـوال درنـه رخصـت شـوم روانېـږم
دا یو خاخکی مـې د ژونـد لـه سـمندره نمونـه ده.

***

## ساندې

لایق زاده لایق

چـې نکرېـزې پـه لاسـونو لګـوې
پـه زخموونـو زمـا مـالګې دوړوې

کلـه شـمعې چـې لـه تانـه چاپېرېـږي
ښائیسـتونه د حیـا نـه چاپېرېـږي
مجبـورۍ تـولې زمـا نـه چاپېرېـږي

پـه اوږو چـې زلفـې ورو ورو خـورې
پـه زخمونـو زمـا مـالګې دوړوې

په رخسار چې دې غوړېږي سره ګلونه
پـه سـینه کـې دې ګېډېږي ارمانونـه
پـه زړګـي مـې راورېږي تندرونـه

ته چې شونډې پـه نازونو سـرې کـوې
پـه زخمونـو زمـا مـالګې دوړوې

نـې بـې غمـه د دنیـا نـه څـه خبـر نـې
په خندا کې د بل چـا نـه څـه خبـر نـې
تـا نـه خار شمه زمـا نـه څـه خبـر نـې

چـې رقیـب پـه مینـه مینـه یـادوې
پـه زخمونـو زمـا مـالګې دوړوې

دغه خیـال مـې بـې وسـې سـبوا کـوي
غریبـي مـې مجبـوري سـبوا کـوي
تنهـایي مـې تنهـایي سـبوا کـوي

خپـل لایـق چـې داسـې زر زر هېـروې
پـه زخمونـو زمـا مـالګې دوړوې





# سوداګره!

شفیع الله تاند_ ننګرهار

راځـه چـې وکـړو څـه رنګیـنې کیسـې
ښایسـته خـوږې خـوږې د میـنې کیسـې
خپله په لوی لاس مو تـریخ کـړی دی ژوند
نـورې بـه پـر پـرېږدو ویـنې ویـنې کیسـې

***

خطـا انسـانه خطاګـانې مـه کـړه
تـه وایـې ګټـه خـو تـاوان بـه وکـړې
چـې دې پـه سـر بانـدې راواوړي خـړې
بیـا بـه هیڅ نـه کېږي ارمـان بـه وکـړې

***

تـه زمـا ځـان یـې او زه سـتا ځیګـر یـم
راځـه پـه خپـل بـدن بـه رحـم وکـړو
ګـوره د ډیوال د ډیوال یـې چیغـې وهـي
پـه دې غریـب وطـن بـه رحـم وکـړو

***

دا تـور زړونـه بـه مـو هلـه سـپین شـي
چـې بیـا تـوبې وباسـو ځـان پـاک کـړو
پـه اننګـو کـې یـې سـرخي ښکـاره شـي
لـه تهمتونـو نـه افغـان پـاک کـړو

ریوړټ: اداره

# په جرمني کې د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري پوهنیزه (علمي) یادغونډه ولمانځل شوه

د جون د میاشتې په اتمه نېټه د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري د لومړي تلین په یاد یوه پوهنیزه (علمي) غونډه د جرمني د کولن ښار په یوینټ پیلس Event Place هال کې ولمانځل شوه.

د غونډې مشر مېلمه د پښتون قامي وحدت لارښود، لیکوال او د عوامي نېشنل ګوند (ANP) مشر محمد افضل خان (خان لالا) و. د غونډې ویاند او د سټېج سکرتر ډاکټر شېر ولي شېر او په سټېج ناست مېلمانه علي خان محسود، محمد شیرین ګردیوال، حاجي فضل الرحمن شېر، محمد نادر سرشار او پوهاند ډاکټر ګل جانان ظریف وو.

غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شوه. غونډې ته د پښتنو د ټولنیز ولوسولیز ګوند (PSDP) جنرال سکرتر هدایت بنګش د PSDP عبوري مشر علي خان محسود، د PSDP ګوند دویم مرستیال محمد شیرین ګردیوال، د ګوند مشر سلاح کار حاجي فضل








الرحمن شېر، د ګوند د کورنیو چارو مشر مبارز څاپي، سیاسي کارپوه محمد اقبال وزیري، محمد عثمان عمر، ډاکټر ماخان مېرېي شینواري، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې مشر زرین انځور، پوهاند ډاکټر سرزمین کیمور، د PSDP ګوند د ناروې د څانګې مشر حاجي محمد نادر سرشار، محمداجان یار، لیلی زماني برهاني ویناوې او مقالې ولوستې او د خدای بښلي ډاکټر کبیر ستوري په سیاسي او عملي ژوند، ټولنیز او هراړخیز شخصیت، علم او فن یې رڼا واچوله او د پښتو، پښتونولۍ لپاره یې د اروابناد نه ستړي کېدونکې هلې ځلې وستایلې.



د غونډې مشر مېلمه محمد افضل خان لالا په خپلو خبرو کې وویل، چې ډاکټر کبیر ستوری هغه درونډ پښتون، سیاسي، ټولنیز او ادبي شخصیت و، چې په خپل ژوند یې د ځان لپاره یو هدف اولاره ټاکلې وه او هغه هدف د پښتنو یووالی او قامي وحدت و، چې د ژوند تر اخري شېبو یې دغه لاره ټینګه کړې وه.

غونډې ته د پوهاند ډاکټر محمد ربي زیر کیار مقاله، محب الله روفي ولوسته. په غونډه کې ګڼ شمېر پوهانو، ادیبانو، لیکوالانو، سیاسي او ټولنیزو شخصیتونو د جرمني او اروپا له نورو هېوادونو څخه شرکت کړی و. د غونډې په ګډون والو کې په برلین کې د افغانستان د سفارت لومړی سکرتر عبدالرحمن ځدران، په بن کې د افغانستان جنرال قونصل فضل الرحمن فاضل، د بېنوا وېب پاڼې








چلوونکی عبدالله احسان او د افغانستان ځینو پخواني دیپلوماتانو، په اروپا کې د کلتوري ټولنو استازو، پوهانو، لیکوالانو او شاعرانو هم برخه اخیستې وه.

د غونډې په دویمه برخه کې یوه مشاعره ترسره شوه، چې زیاتو شاعرانو اروابناد ستوري ته د عقیدت پېرزوینې وړاندې کړې. په مشاعره کې عاشق الله غریب، محمداجان یار، عبدالوهاب سرتېر، مېرمن شاه جهان حرکت، لطیف اپریدي، خالد ساپي، زلمي قاضي خېل، مبارز څاپي، نسیم ستوري، انجنیر فریدالله ساپي او نورو شاعرانو خپل شعرونه واورول.

د غونډې په پای کې نصیر ستوري د کورنۍ په استازیتوب د غونډې له ګډونوالو څخه مننه وکړه او په خصوصي توګه یې د ښاغلي محمد افضل خان لالا شکریه ادا کړه، چې له پښتونخوا څخه جرمني ته ددغه غونډې لپاره تشریف راوړی و. همدارنګه یې د دانش خپرندویې ټولنې، پښتونخوا د پوهنې دېرې او په جرمني کې د ساینس پوهانو د ټولنې مشر پوهنوال ډاکټر نظر محمد سلطانزي څخه هم مننه وکړه، چې د اروابناد ډاکټر کبیر ستوري په یاد یې خپل کتابونه چاپ کړي وو او هم یې له انجنیر شېر علي خان شېر څخه خوښنه او مننه وکړه، چې یوینټ پیلس هال یې غونډې ته وقف کړی و.

غونډه د شپې په یوه بجه د اروابناد ډاکټر ستوري روح ته په دعا سره پای ته ورسېده.





نعمت الله کریاب



# چترال او چترالیان وپیژنئ

چترال د سرحد ایالت له مرکز پېښور څخه شه ناځه (۳۰۰) کیلومتره لیرې له نورستان، کونړ او بدخشان سره جوخت پروت دی، هر دوبی ورته په لوی شمېر کې کورني او بهرني سیلانیان د (لورۍ) پر لوړ غره




واوړي په ژمي کې یې ټولې ځمکنۍ لارې له پاکستان سره ترل کېږي، خلک یې بیا د کونړ په لار تګ راتګ کوي.

د خورا غرني چترال ځمکه څه باندې (۱۴۰۰۰) مربع کیلومتره ده او اوس اوس یې د وګړیو شمېر له (۳۵۰) درې سوه پنځوس زرو څخه اوړي. اوسېدونکي یې له لسو په پورته ژبو او ګړدودونو خبرې کوي او د څلور سوو په شاوخوا کې لوی او واړه ټبرونه پکې مېشت دي. د چترال لومړني استوګن بومکي وو او په پچاچي ګړېده، خو اوس دغه ژبه (چترالي) مړه ده او په سلو کې (۸۰) کسه یې د اردي ژبې په یوه څانګه

ډاکتر نصر الله ناصر

# نس ناسته Diarrhea

نس ناسته په ماشومانو کې د مړینې دویم عمده علت تشکیلوي، چې د بدن د اوبو او مالګو د ضایع کېدو له امله رامنځته کېږي او همدارنګه د سوتغذي (خوارځواکۍ) لامل هم کېږي.

نس ناسته د نري (ابګین) غایطه موادو خارجېدو ته وایي، چې په ماشومانو کې یو معمول افت دی. یو ماشوم په کال کې د (۳_۵) د نس ناستې حملې تېروي. څرنګه چې په نس ناستې کې د مړینې واقعات ډېر زیات وي، نو یو شمېر ډېرې ساده لارښوونې کولای شي د مړینې کچه راټیټه کړي، خو له بده مرغه ددې پرځای چې د ناروغ ماشوم ضایع شوې اوبه او مالګې جبران شي، نس ناستې په یوه غلط مېتود د انتي بیوتیکو او نورو دواګانو له لارې درملنه کېږي، چې دا کار په یوه رواج بدل شوی دی او د ناروغ ماشوم د والدینو له خوا هم قابل د قبول ګرځي.

نس ناسته اکثراً د ګرمۍ په موسم کې چې د مکروبونو د ودې لپاره مساعد شرایط برابروي رامنځته کېږي، نو که چېرې په دې موسم کې اوبه او غذا له صحي شرایطو سره سم تهیه نه شي د نس ناستې لامل کېږي او همدارنګه تجربو ښودلې ده، هغه ماشومان چې د مور د شېدو په ذریعه نه تغذي کېږي، د هغو ماشومانو په پرتله چې د مور شېدې خوري، زیات په ناروغۍ اخته کېږي.

همدارنګه نوموړې ناروغۍ د یوې ټولنې له اقتصادي او اجتماعي شرایطو سره نږدې اړیکې لري، خو اکثراً ساده روغتیایي تعلیمات ډېرې ښې نتیجې ور کوي.

د نس ناستې لاملونه او د منځته راتلو مېکانېزم:

تقریباً په سلو کې (۸۰) د ناروغۍ سبب ډول ډول ویروسونه او باقي پاتې یې بکتریاوې، پرازیتونه او نور عوامل دي. د کولمو په جدار (دیوال) کې چې د مخاطي طبقې په ذریعه پوښل شوی ده، د Enterocyte په نوم حجرات موجود دي، چې وظیفه یې د غذایي موادو جذب او د مایعاتو افراز دی. کله چې دغه حجرات د ویروسونو په ذریعه په مستقیم ډول او د بکتریاو د زهري موادو چې د Enterotoxin په نوم یادېږي، تخریبېږي، چې له تخریب شوو حجراتو څخه په زیات مقدار مایعات د کولمو داخل ته تویېږي، چې دغه عمل د افراز د زیاتوالي (Hypersecretion) په نوم یادېږي. دغه نوموړي تخریب شوي حجرات په بالنفسهي ډول د (۲_۴) ورځو په موده کې ترمیم کېږي، چې ورسره نس ناسته هم توقف کوي، خو دغه عملیه په سوتغذي ماشومانو کې ځنډېږي.

**په نس ناستې کې عمده خطرات:**

**۱_** له بدن څخه د اوبو او مالګې ضایع

**۲_** سوغذي

**۳_** له ډکو متیازو سره د وینې خارجېدل او Sepsis او وینې جریان ته د مکروب داخلېدل او تکثر یا زیاتېدل.

**د ناروغ ماشوم ارزیابي:**

داخلي تاریخچه:

_ د ناس ناستې دوام د څومره مودې لپاره دی؟ او حاد دی که مزمن (دوامدار) دی.

_ آیا په ډکو متیازو کې وینه موجوده ده.

_ د ماشوم عمومي وضع څرنګه ده.

_ آیا چمبټلې شي.

_ ایا ماشوم خوبوړی دی

_آیا اختلاجات (چاړان) موجود دی

_آیا نور مشکلات ورسره یوځای دي

_تبه

_ټوخی

_د غوږ درد

چې دا ټول د نس ناستې سبب کېدای شي.

{نور په بله ګڼه کې}







ګلرنګ کوچوان
د خاص کونړ د کرنې مدیر

# د باغ جوړولو لارې چارې

دا چې مېوه جات په وچ او تازه شکل د افغانستان د مهمو صادراتو له جملې څخه دي، خو له بده مرغه د افغانستان د زیاتو سیمو د مېوه جاتو باغونه د انقلاب په دوران کې له منځه تللي دي.

ددې لپاره چې زموږ هېواد بیا د صادراتو په درشل کې ودرېږي، د باغدارانو علاقمندي او فني مشورو ته ضرورت دی، چې په لنډه توګه په لاندې ډول د باغ جوړولو طریقې ذکر کوو، هیله ده چې د لوستونکیو د پام وړ وګرځي.

**۱_ د باغ جوړولو لپاره د ځای ټاکل:**

تېږې ونه لري، نم ناک ځای نه وي او هوار وي.

**۲_ د باغ جوړولو لپاره د ځمکې تیارول:**

ځمکه باید ښه قلبه شي او لوټې یې میده شي، هر زه ګیاه ترې راټوله شي او وسوځول شي او ډېرانې سره ور کړل شي.

**۳_ د کتارونو جوړول:**

د بوټو ترمنځ باید فاصله موجوده وي، ترڅو د بوټو څانګې له یو بل د ودې او نمو خنډ ونه ګرځي او بوټي له یو بل سره د غذایي موادو په سر رقابت ونه کړي او د لمر وړانګې په اسانۍ سره واخلي او د القاح عمل په ښه ډول ترسره شي، نو له دې امله نیالګي موږ په دې ډول کېنوو:

الف: د مربع په شکل، ب: د مستطیل په شکل، ج: د مثلث په شکل.

کله چې وغواړو چې بوټي ۳ په ۳، ۴ په ۴ او یا ۵ په ۵ کې نهال شاني کړو، له مربع شکل نه استفاده کوو. او که چېرې وغواړو چې ۳ په ۵ کې او یا ۴ په ٦ کې بوټي نهال کړو، د مستطیل له شکل نه استفاده کوو او که چېر ته ځمکه زموږ غېر منظم شل ولري او یا د پارکونو او کورنو مخې ته نهال کړو، نو بیا له مثلث شکل څخه استفاده کوو.

**۴_ د بوټي لپاره د قوتي وېستل:**

د نیالګي لپاره باید قوتی څو ورځې مخکې ووېستلی شي، ځکه چې د یوې خوا نه زهرجن ګېسونه د ځمکې نه ووځي او بل خوا نه د حشراتو هګۍ د لمر په واسطه تعقیم شي.

د قوتي د پراخوالي اندازه: ددې لپاره چې قوتی څومره پراخ وي، په همغه اندازه د یوې خوا رېښه په اسانۍ سره نمو کوي او له بل خوا نه په اسانۍ سره اوبه جذبوي. د قوتي ژوروالی باید له 50cm څخه کم نه وي او سور یې د 60cm پورې وي او د قوتي خاورې باید د شمال طرف ته وغورځول شي، چې ترڅو د لمر وړانګې پرې ولګېږي.

**۵_ د نیالګي یا د بوټي انتخاب:**

ښه خبره دا ده، چې په خپل هېواد کې د روزل شویو قوریو د نیالګیو نه استفاده وکړي، ځکه چې هغه د اعتبار وړ وي او که د نورو ځایونو نه یې راوړي، نو نیالګي باید ځوان وي او دوه کلن وي، پیوند ولري او جرړې یې ډېرې قطع شوې نه وي، مستقیم وي او پېړوالی یې د لاس د غټې ګوتې په اندازه وي. دغه نیالګی د هغو ونو دی کوم چې په ژمي کې پاڼې غورځوي او د هغه نیالګي چې تل شنه وي لکه لوکاټ، نارنج او داسې نور باید جرړې یې د خپلې خاورې په واسطه پټې وي او یا ورسره د اړې بور یوځای کېږي او لږه اندازه رطوبت ور کوي.

**۶_ د بوټو یا نیالګو ابیاري:**

کوم وخت کې چې نیالګی وکرل شي یا به سمدستي اوبه کړی شي. اوبه باید د نیالګي د پیوند او تنې له برخې سره په تماس کې نه شي، ځکه چې د ابیارۍ په اوبو کې د حشراتو هګۍ او نور میکروبونه او د هغوی تخمونه شته دی، چې هغه د بوټي د تنې د برخې او یا د پیوند برخه کې نښلي او مرض پیدا کوي، نو په دې خاطر د بوټو تنې ته باید خاوره راجمع شي، چې له اوبو سره په تماس کې نه شي او لکه د خاورې پرځای شګه ورته راجمع شي او یا ډېرې شي. دا به د ټولو نه ښه وي، ځکه چې په شګو کې مرض کم وي.

**۷_ د نیالګو یا بوټو نهالول:**

په لومړي ګام کې باید د قوتي لوټې مېده شي او بل دا چې د پیوند برخه مخ په لمر نه وي او د خاورو نه جګه وي او یوه بېلچه زړه ډېرانی سره له خاورې سره ګډه شي او قوتي کې واچول شي او بوټي پکې نهال شي او تر نهالولو وروسته بوټي باید د ځمکې نه 50_65cm پورې پورته قطع شي، چې په دې کار سره له یو طرف نه د بوټي د څوکې او ریښې ترمنځ توازن ساتل کېږي او د بل طرف نه بوټي ټیټ قدي تربیه کېږي، چې زراعتي عملیات پکې په اسانۍ سره ترسره کېږي.

یادونه کېږي، چې د مېوه لرونکیو ونو ترمنځ د فاصلې ټاکل په مختلف ډول سره دی، چې په لاندې جدول کې ذکر کېږي:

| د مېوه لرونکیو ونو ترمېنځ فاصله _ په متر | | | |
|---|---|---|---|
| د نیالګي نوعیت | د دوو نیالګیو ترمنځ فاصله (په متر) | د دوو قطارونو ترمنځې فاصله | د نیالګیو تعداد په یوه هکتار کې. هکتار باید په جریب واوړي، چې زیات مروج دی دلته |
| مڼه | ۶ | ۶ | ۲۸۰ |
| ناک | ۶ | ۶ | ۲۸۰ |
| بهي | ۵ | ۶ | ۳۳۵ |
| زردالو | ۷ | ۷ | ۲۰۰ |
| شفتالو | ۵ | ۵ | ۴۰۰ |
| الوبالو | ۵ | ۶ | ۳۳۵ |
| ګیلاس | ۵ | ۶ | ۳۳۵ |
| بادام | ۵ | ۶ | ۳۳۵ |
| چارمغز | ۸ | ۸ | ۱۰۰ |
| اینځر | ۶ | ۵ | ۳۳۵ |
| انار | ۳ | ۴ | ۸۳۵ |





عرفان الله کوټوال

# د خاص کونړ ولسوالۍ د ښوونې او روزنې چارې

د ۱۳۵۷ ل کال د ثور د انقلاب څخه راپه دېخوا د ۱۳۶۸ ل کال پورې، چې هېواد عمومي ادارې د سره ښکېلاک سره د جهاد له امله لړزانده وې او د مقابلې میدان ګرم و، نو په دې مهال د ټول هېواد ښوونه او روزنه ټکنی شوې وه، چې اغېزه یې د هېواد لر او بر ته رسېدلې وه. د هېواد دننه ښوونځي ټول ویجاړ شوي وو او د زده کړې بهیر یا بیخي ورک شوی و او یا ې ایله سیوری _هغه هم خړ_ معلومېده چې د څښتن تعالی په پېرزوینه د جهاد په بریالیتوب پېر ته د دویم ځل لپاره په ښوونه او روزنه کې ساه وغړېده، خو متاسفانه چې بشپړ صحت یې لا د بېلا بېلو نظامونو په وجود کې نه و موندلی یانې د مرکزي دولت د ادارې د نشتوالي له امله یوه ځانګړې نصاب وجود نه درلوده.

د "۱۳۸۰"ل کال راپه دېخوا، چې ښوونه او روزنه تر اوږدې وقفې وروسته یوه اندازه لږه راوغړېده، نو د ښوونې او روزنې په تشکیلاتي جوړښت کې هم یو څه تغییر تر ستر ګو کېږي، چې عملاً یې د بېلګې په ډول د خاص کونړ ولسوالۍ د ښوونې او روزنې په چارو کې ستاسې مخ ته وړاندې کوو.

د کمیت له پلوه د خاص کونړ په ولسوالۍ کې د ۸۵_۱۳۸۶ ل تعلیمي کال له مخې ښه پرمختګ شوی دی، چې په دې ولسوالۍ کې د ښوونځیو شمېر "۲۰" ته رسېږي.





یو نوی نوښت، چې په اوسنی ښوونه او روزنه کې لیدل کېږي او د یادولو وړ دی، هغه دا دی چې ولایاتو ته د ښوونې او روزنې د وزارت په سلسله د ریاست تشکیل او همدا شان په ولسوالیو کې د ښوونې او روزنې مدیریت تشکیل او تاسیس شوی دی، چې د مدیریت په سر کې یو امر د مدیر په توګه، یو تن اداري مامور، یو تن تحویلدار، یو تن ملازم او دوه تنه د نظارت غړي لري، چې د ولسوالیو د ښوونې ، روزنې او د مرکز د ښوونې او روزنې د ریاس، ترمېنځ ارتباطي پل دی.

د خاص کونړ د ولسوالۍ د ښوونې او روزنې د مدیریت د ۸۵_۱۳۸۶ ل تعلیمي کال د احصایې له مخې دا ولسوالۍ "۲۰" شل ښوونځي لري، چې "۳" درې لیسې (ثانوي)، ښوونځي، "۱"یوه دیني مدرسه، "۱۴" څوارلس ابتدايي ښوونځي او "۲" دوه منځني ښوونځي لري.

دوه د ذکور لېسې (ثانوي) ښوونځي او یوه لېسه د اناثو لري. همدا ډول د ذکر شوي تعلیمي کال د احصایې له مخې "۵" پېنځه ابتدايي ښوونځي د نسوانو لپاره او "۹" نهه ابتدايي ښوونځي د ذکورو لپاره تشکیل شوي دي، چې د همدې ۸۵_۱۳۸۶ تعلیمي ل کال له مخې یې د زده کوونکیو شمېر "۹۰۰۲" نهه زره او دوه تنو ته رسېږي، چې له دغې جملې څخه یې "۶۰۴۸" تنه هلکان او "۲۸۰۴" تنه نجونې زده کوونکي په درس بوخت دي. ددغو ټولو زده کوونکیو تدریسي بهیر د "۲۵۱" تنه ښووکیو له خوا پرمخ وړل کېږي، چې له دغې جملې څخه "۶" تنه یې ښځینه ښوونکي دي او "۲۴۵" دوه سوه پېنځه څلوېښت نور یې نارینه ښوونکي دي. همدا شان ښوونې او روزنې ته د منسوب پرسونل یوه برخه یې "۱۸" تنه مامورین او "۷۳" تنه اجیران تشکیلوي.

د خاص کونړ ولسوالۍ د موسمي وېش له پلوه د یخې هوا (سرد سیر) برخې او د تودې ګرمسیر هوا برخې لري، چې له شلو "۲۰" ښوونځیو څخه یې "۵" پېنځه د یخ موسم لرونکي ښوونځي او پاتې "۱۵" پېنځلس یې د تودې سیمې ښوونځي نومول شوي دي.





د ثبت او سجله پلوه ټول "۲۰" ښوونځي دولتي ښوونځي دي، چې شخصي ښوونیزې اداري دلته وجود نه لري.

د ځای او تعمیر له مخې "۸"اته ښوونځي تعمیرونه لري او پاتې "۱۲" دولس یې د شنه اسمان لاندې د تودو او سړو باوجود په خپلو زده کړو بوخت دي. ځای لري، خو تعمیرونه نه لري.

لکه څنګه چې دمخه وویل شول د کمیت له مخې د ښوونې او روزنې په برخه کې یو څه بدلون تر ستر ګو کېږي، چې مثبتې خوا ته قدم وهي، خو له بده مرغه چې کیفیت یې لکه څنګه چې لازم وي، هغه شانته نه برېښي. په کیفیت کې وروسته والی یې د ځینو عواملو اغېزه بللی شو، لکه د تعمیرونو نشتوالی، د درسي کتابونو کمښت، د زده کوونکیو لپاره د مېز او چوکۍ نشتوالی، د لابراتوارونو، کتابتونونو، درسي لوازمو، درسي موادو، ورزشي لوبغالو او مسلکي ښوونکیو نشتوالی او نور په دې برخه کې د زیات پام وړ عوامل دي، چې د ښوونې او روزنې په کیفیت کې یې د پرمختګ قدم سوکه کړی دی.

نو په دې تړاو زموږ غوښتنه له اړونده چارواکیو څخه دا ده، چې په دې برخه کې د زیات خدمت کولو وياړ ترلاسه کړي او د خپل زورېدلي ولس او د راتلونکي نسل ستونزې او مشکلات ورحل او لنډ کړي.

بل وړاندیز مو دا دی، چې چارواکي دې په دې ولس رحم وکړي او هغه څه دې نه وایي، چې نه یې کوي. مطلب مې له هغه غوړو او زېړو ژمنو څخه دی، چې چارواکي یې د دولتي مامورینو او په تېره بیا د ښوونې او روزنې له پرسونل (ښوونکیو) سره یې کوي، چې کله بیا د حساب د تصفیې وخت راشي، د ټول کال د ژمنو قیمت ایله دوه درې سوه افغانۍ وټاکي، چې په اصطلاح په هغه انتظار هم نه ارزي.

که په رښو الفاظو دغه ژمنې له یوې خوا نه د مطبوعاتو مخ تور او د رسنیو ژبه غوړوي، خو له بل پلوه زموږ راتلونکی نسل هم په چل او فریب روږدی کوي. ددې بحث لړۍ به په همدغه سپوره غونډې ګېله او د چارواکیو په دې غوړو وعدو راونغاړم.

## زېری

د پښتو ژبې د شعر مینه والو ته زېرې ورکول، کېږي، چې د پښتو ژبې د تکړه شاعر او ښاغلي لایق زاده لایق نوې شعري مجموعه "لېونی سندرې" به په نږدې راتلونکي کې د لوستونکیو لاسونه ښکل کړي.

"لېونی سندرې" د ښاغلي لایق زاده لایق نوې شعري مجموعه ده، چې په نوموړې مجموعه کې د شاعر نوموتې سندرې، چې د هنرمندانو په اوازونو کې هم زمزمه شوي دي، راغونډې شوي.

مینه وال کولای شي چې د نوموړې ټولګه په نږدې راتلونکي کې له یونیورسټي بک ایجنسی، دانش کتابتون او د کتابونو له هر لوی دوکان څخه ترلاسه کړي.

"ستوری" مجله د هېڅا د لیکنې ننګه نه کوي، هر لیکوال ته بویه چې د خپلې لیکنې سپیناوی پخپله وکړي.

"ستوری" مجله به هغه لیکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي یووالي ته په زیات تمامېږي.

عبدالحمید مومند

## غـزل

زه د ستا هـسې بې پتـه اشـنا نـه یـم
چې مېن بـه تـر خپـل ځان هم پـر تـا نـه یم

کـه لـه تـا مـې پـه وینـا بیـایي جنـت تـه
قبلــوونی د ناصـــح د وینـــا نـــه یـــم

مـــرور یـــم هـــومره زه لـه خپلـــه بختـــه
څـــو لـــه تـــا ســـره دلبـــره پخـــلا نـــه یـــم

د سولی پـه سـر ژونـدون څـه ژونـدون نـه دی
کـه بـې تـا پـه دم ژونـدی یـم ګـویـا نـه یـم

ماته څه وایې خپل شست پوښته ویشتو نیه
چـې ویـشتلی دې رسـا کـه رسـا نـه یـم

چې جواب راتـه رقیـب د ستا د خولې کـا
پـه ګـوزار د تـورو خـوښ یـم، پـه دا نـه یـم

را پـــسې تـــوره بـــلا کـــه خـــنې مرمـــه
راضـــي منـــد د ســـتا د درد و دوا نـــه یـــم

بـــې د ســـتا د محبـــت بـــارو کښتیـــه
زه د بـــل روزګـــار دپـــاره پیـــدا نـــه یـــم

هغـه ورخ دې مـا "**حمید**" بـانـدې مابنـام شي
چـې و تـا تـه پکـې سـر پـه دعـا نـه یـم

# ستوری Stori

د امتیاز خښتن:

د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه

مسئوول مدیر: عرفان اللهّٰ کوټوال

مرستیال: هدایت اللهّٰ حیات

کتنپلاوی: بصیر بیدار ستوری، محمد داود صدیقي، عصمت اللهّٰ ملنګ، ګلرنګ کوچوان

سلاکاره پله: مرستیال څېړونکی وجیه اللهّٰ شپون، عبدالقیوم زاهد مشوانی، شفیع اللهّٰ تاند

همکار غړي: رحیم اللهّٰ یوسفزی، فضل الهادي عاصم، میرسلام مجاور، داود شاه داود

د ستوري استازي:

کابل: عبدالحلیم همت

ننګرهار: شفیع الله تاند

کونړ: نعمت الله کریاب

پېښور: ذبیح شفق

جرمني : نسیم ستوری